# دانجنيرانولاربنود

کتاب نوم : دانجنيرانولاربنوود

ژباړونکي : انجنيير عبدالعلی نجيمی او انجنييرروح الله اسحاقزی

**دکمپيوټرچارې:انجينير محمد جمعه (خاورېن جعفر)**

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# سریزه

څرنګه چه په دريو لسيزو کي زموږګران هيواد ډيري ورانۍ او ويجاړيدني زغملي او زغمي يي. د قادر او ښنو نکي الله (ج) څخه هيله لرو چه زموږ په هيواد کي هميشنۍ صلحه ټينګه شي، تر څو وکولاي شو دالله (ج) په پيرزوينه او د خپلو غيرتي او زغم ګالونکو خلکو د هاند او هلوځلو په نتيجه کي دا وراني او ويجاړي بيرته ورغول شي.
داچه اوس مهال د هيواد په ګوټ ګوټ کي څه نا څه د بيا رغونۍ او پرمختيايي کارونه روان دي په ځيني ځايو کي په کارو کي څه ناڅه تخنيکي ستونزي او نيمګړتياوي تر سترګو کيږي، په تيره بيا د ځينو سړکو پلچک چه د جوړولو څخه وروسته په ډير کم وخت کي له منځه تللي يا سخت زيانمن شويدي چه لامل يي غير مسلکي جوړول اونقشه کول دي ځکه چه په زياتو کورنيو کمپنيو کي د مسلکي او تجربه لرونکو انجينرانو نشتوالۍ دي. همدارنګه ځيني ودانۍ جوړيږي يا جوړي شوي چه د ورانونکوزلزلود ويجاړيدو د مخنيوي په هکله يي په ديزاين کي هيڅ تدابير په نظر کي ندي نيول شوي اوداسي نوري ستونزي.
له دي کبله مي له پخوا څخه تلوسه درلوده چه څه داسي لارښو ني پخپل مورنۍ ژبه تياري کړاي شم چه تر څو زموږ نوي ځوان انجينران وکړاي شي د هغي په پلي کولو سره يي په کارو کي نيمګړتياوي له منځه لاړي شي يا لږ تر لږه کمي شي. ديدي موخي لپاره مي ځيني موضو عات لکه د کانکريتو د مخلوط جوړونه، زلزله، د سړکو د پلچکو نقشه کول، د ودانۍ د احجامو اټکلونه او داس نور موضوعات دځيني معتبرو انګيسي سرچينو څخه د الله (ج) په توفيق سره په پشتوژبه وژباړل. که څه هم دا موضوعات او لار ښوني لنډي اوځيني يي د جدولونو په ترڅ کي ترسره شويدي، بيا هم هيله ده چه د لوستونکو لپاره ګټوري تمامي شي. که د الله خوښه وه دادي ژباړني لړي به نوره جاري ساتم. د سيخ لرونکو کانکريټي ساختمانونودتفصيلي او په جزئياتوسره د ديزاين په هکله به نوري ژباړي کووم.
کيداي شي زما په ژباړه او ليکنه کي څه غلطۍ او نيمګړ تياوي شتون ولري له دي کبله د ګرانو لوستونکو څخه په د رنښت هيله کيږي چه خپلي نيوکي موږته راواستوي تر څو موږ وکولاي شو په وروستي چاپ کي يي اصلاح کړاي شو.
انجينر روح الله اسحاقزي چا چه د دي رسالي په ژباړلو، کمپيوتر کولواو د اشکالو په رسمولوکي پوره ونده اخيستي ده د زړه له کومي مننه کيږي. اوژمن دی چه د (Building Construction) په انګليسي ليکل شوی کتاب پښتو ته وژباړي.

انجنيير عبدالعلی نجيمي
سلواغه ۱۳۸۷

(c) ketabton.com: The Digital Library

## لمړی څپرکی

**د کانکریټ د مخلوط جوړونه**
**مقاومت**
**دکانکریټ درجه بندي**
**پایښت**
**کاري وړتیا**
**د شړیدني آزمیښت**

دوهم څپرکی
**د مخلوط د تناسب اټکلونه**

**د مخلوط لپاره عمومي معیارونه:**
**د مخلوط د تناسب د محاسبه کولو مثال**

## دریم څپرکی

کانکریټ اچول په سړه هواکښې
کانکریټ اچول په توده هواکښې

**دکانکریټودساتنې پروسه**
دکانکریټومخلوطول

دکانکریټوانتقالول

دکانکریټوځای پرځای کول
دکانکریټوټیک کول

## څلورم څپرکی

**د نړی زلزله لرونکې سیمې**
**په افغانستان کې زلزلې**

**دزلزلې په مقابل کې دودانیونقشه کول**

**دودانیو بنه**

(c) ketabton.com: The Digital Library

دودانيوړولونه
**په ځانګړې بڼه آبادونه**

پنځم څپرکی

**دښوونځيو و دانۍ**

## شپږم څپرکی

**دپل د څنګيزو ستنو ډيزاين**
**د څنګيز ستنو اندازه:**
**د پل د ستنو، څنګيز او خلطنکي ديوالونو د سر پلنوالی**

**خلطنکي د يوالونه**

**دسړك انتقالي تخته**

**کاږه پلونه**

## اووم څپرکی

**برآورداواندازه**
**مځکنی کار او کيندنې**

**مساله**
**دسمنټو اوچونې مساله**
**چونه يي مساله:**
**سمنټي مساله:**
**کانکريټ**
**دسمنټووزن:**
**دسمنټوکانکريټ:**

**کارګر-لوی کارونه**

**سمنټ دکوچنيوکارونولپاره**
**سيخداره کانکريټ**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**دپایې سیخ بندي**
**قالب بندي**
**مخکې ریخت شوي کانکریټ**
**خښتکاري**
**دسمنټومساله**
**دډبروکار**
**دغولې(فرش) کار**
**کانکریټي غولې**

**دیوه مترمربع، ډول ډول غولیوپرتلیزاټکلي قیمت**
**هنګاف**
**پلسترکاری**
**دچونې پلاسترپه دیوال باندې**
**دسمنټو-چونې-ریګ پلاستر** د۱۰۰مترمربع دیوال لپاره:
**چونه یي رنګ اوډستمپر**
**دستمپر**
**سمنټي رنګ**
**چونه یي رنګ**
**سپین سمنټي رنګ**
**ددروازواوکړکیوترکاڼي**
**رنګمالي**
**درنګ دپراخوالي ظرفیت**
**دناهموارې سطحې درنګمالي فکټورونه   دمعادلې هموارې سطحې په پرتله بام**

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

## لمړی څپرکی
## د کانکریټ د مخلوط جوړونه
## Concrete Mix Design

ددې لپاره چه د کانکریټو د مخلوطولو داسې یو اقتصادي تناسب غوره شي چه په دواړو حالاتو کې یعني د تازه لانده مخلوط اود سختیدو نه وروسته حالاتو کې په زړه پورې نتیجې ولري. دې مقصد ته د رسیدو لپاره په لاندې مختلفو عواملو او د مخلوط په خواصو باندې پوهیدل ضروري ده.

### Strength مقاومت

مقاومت د کانکریټو له مهمو خواصو څخه ګڼل کیږي چه د کانکریټو په نورو د اهمیت وړ خواصو باندې په زړه پورې اثر غورځولای شي. کانکریټ باید په هغه اندازه قوي وي چه بیله دې چه څه زیان ورته ورسیږي د ټول وارد شو یو فشارونو په مقابل کې د ا حتیا طي فکتورونوپه نظر کې نیولو سر بیره مقاومت وکړای شي. کله چه د کانکریټو مخلوط د اوبو او سمنټو د لوړ مجازي تناسب د لرلو په اساس سره دیزاین شي پکارده چه د کانکریټو د تداوم ضروریات په نظر کې ونیول شي. کانکریټ خپل مطلوب مقاومت هغه وخت لاس ته راوړلی شي چه د اچولو په وخت کې په ښه توګه قالب کې ځای پرځای شي او کافي اوبه دکافي وخت لپاره ورته ورسیږي، اجازه ورنکړاي شي چه ژر وچ شي، ځکه چه لوندوالی د کانکریټو د مقاومت د لوړ والي لپاره ډیر ضروري دي.چه د زیات وخت لپاره په ټیټه درجه د حرارت کې لانده وساتل شي.

## دکانکریټ درجه بندي
## Grading of Concrete

هندي سټانډرډ ۴۵۶-۱۹۶۴ اوه مارکونه یي د کانکریټو لپاره ټاکلي دي. مارک ۱۰۰،مارک ۱۵۰، مارک ۲۰۰، مارک ۲۵۰، مارک ۳۰۰، مارک۳۵۰، مارک ۴۰۰، چه ۱۰۰ او ۱۵۰اعداد، د ۱۵ سانتي متره کانکریټي مکعب د ۲۸ ورځو د فشاري مقاومت څخه عبارت دي چه په کیلو ګرام سانتي متر مربع سره ښودل کیږي.

### پایښت Durability :

د مخلو ط د مناسب تناسب ټاکنه نه یوازې دا چه د مقاومت شرایط تاء مینوي بلکه د کانکریټ د پایښت په هکله په زړه پورې رول لوبولی شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چه تر اوسه پورې داسې يوه منل شوې طريقه وجود نلري چه د مخلوط د تناسب داسې ټاکنه وکړي چه په هر ډول شرايطو کې د کانکريټو د پا ييښت لپاره وکارول شي. ددې يو دليل د شا و خوا پراخه او ډول ډول شرايطو سره مخامخ کيدنه ده.

د پايښت خصوصيت عبارت دي دکانکريټومقاومت د چاك کيدو او ورستيدو په مقابل کې.

هغه عوامل چه د چاك کيدو او ورستيدولامل ګرزي په لاندې ډول دي.

١. د ناوړه سمنټو استعمال

٢. دکم پا ييښته جغل استعمال

٣. د کانکريټو خاليګاؤ ته د ځني کيماوي مضره ګازاتو اود مالګې نفوذ چه په کانکريټو کې موجود وي.

۴. د اوبو کنګل کيدنه او توديدل کومې چه د چاکونو او وړو سوريو له لارې کانکريټو ته د اخليږي.

۵. پراخيدنه ا و غونجيدل چه د حرارت ددرجې د تغيريدو په نتيجه کې صورت نيسي.

لاندني عوامل د کانکريټو مقاومت او پايښت باندې ناوړه اغيزه اچولی شي.

کيمياوي ، جوي ، سوليدل، اور، داستعمال شوي کانکريټوضعيف مارك، د بې کيفيتوموادواستعمال او په کانکريټو کې د خاليګاؤ شتون.

همدارنګه د سيخانو پوششي طبقه او د کانکريټو د اوبو د نه زيښنلو درجه هم د کانکريټو په پايښت باندې ا غيزه اچولی شي.

د ښه کيفيت لرونکو موادو استعمال لکه ( سمنټ، جغل او اوبه) دکانکريټو په پايښت او ټينګښت کې په زړه پورې رول لوبولای شي، په کانکريټو کې د خاليګاوو کمول، د جغلومناسبه درجه بندي کول اود ښه تناسب غوره والی،په کافي اندازه د سمنټو ګډول، د اوبو او سمنټو ټيت نسبت کارول، د کانکريټود اوبو د نه جذبولو قوه (Impermeability) پياوړی کوي. سر بيره پر دې د کانکريټو په ګډولو کې بشپړه پاملرنه، د غوښتني سره سمه کانکريټ اچونه، په کافي اندازه سره ټيك کول او لړزه ورکول (Vibration) اوپه کافي اندازه اوبه ورکول د کانکريټو د پايښت لپاره خورا زيات اهميت لري.

## کاري وړتيا Workability

سره له دې چه کاري وړتيا د کانکريټو د اهمو خواصو څخه ګڼل کيږي، ولې ددې لپاره څه خاص تعريف نشته، اواندازه کول يې خورا ستونځمن دی. په ساده الفاظو سره ويلای شو چه کاري وړتيا لرونکی کانکريټ هغه دی چه په آسانۍ سره ګډ شي، په آسانۍ سره يې وړنه اوراوړنه وشي، ځای پر ځاي کول او ټيك کول يي په آسانۍ سره سرته ورسيږي.

د کار وړکانکريټ په هغه اندازه سره اوبلنه وي چه په کمترينو کار ګرو سره ټيك کاري شي مګر دومره اوبلن نه شي چه د جغل د بيليدو* سبب وګرزي يا اضافي اوبه د مخلوط سرته را په ټوليدو شي*. د کانکريټو کاري وړتيا په لاندې عواملو سره په څرګند ډول متاءثره کيدای شي.

١. د جغل د تناسب اندازه کمول: په دې باندې پوهيدل پکاردي هر څومره چه د ميده ريګ اندازه زياتيږي د مخلوط کاري وړتيا اوچتيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. د جغل شکل د کانکریټوپه کاري ورتيا با ندې زيات اثر غورځولای شي. يعنې دګرد شکله جغلي مسالي کاري ورتيا نظر نوك لرونکو جغلي مسالي ته ډيره زياته ده.
۳. د اوبود مقدار اضافه کول د مسالي کاري ورتيا لوړوي. مګر د اوبو اوسمنټو نسبت ساتل او رعايت کول اړين دي.
۴. د سمنټودمقدار اضافه کول د مسالي کاري ورتيا لوړوي.
۵. د کانکريټو د مسالي د مخلوط پروسه.
په څرګند ډول د کانکريټود کاري ورتيا شرايط د وظيفي د ماهيت، د کانکريټو د بهيدو او حرکت موانع چه د سيخانو د فاصلي په سبب پيداکيږي توپير کوي. د کانکريټو کاري ورتيا کيدای شي د لاندې دريو ټيستونو په وسيله سره سرته ورسيږی.

1. Slump test.
2. Compaction Factor test
3. Vee-Bee test

*Segregationپه مخلوط کې کله چه جغل هڅه وکړي د ميده ريګ څخه بيل شي
اوبلنيدل په هغه حالت کې چه اضافي اوبه هڅه وکړي د مسالي (مخلوط) سرته
*Bleedingراشي.

## Slump test د شړيدني آزميښت

سلمپ ټيسټ معمولاً د عادي کانکريټو د آزميښت (ټيسټ) کولو لپاره کارول کيږي. چه د يو مخروطي شکله ټيوب په مرسته اجرا کيږي. د مخروطي ټيوب دواړه قاعدې(سرونه) خلاص دي چه د لاندې ا و با ندې سراو قطرونه يې په ترتيب سره ۲۰ سانتي متره او ۱۰ سانتي متره وي او ۳۰ سانتي متره لوړوالی و لري. مخروطي ټيوب په همواره غير جاذبه سطحه باندې ايښوول کيږي وروسته د کانکريټ له مخلوط څخه په څلورو مساوي طبقو کې ډکيږي. هره طبقه يې په يوه او سپنيز ميله باندې چه ۱۶ ملي متره قطر او ۶۰ سانتي متره اوږدوالی ولري، ۲۵ ګوزاره سره ټپول کيږي، ګوزارونه يو شانته په ټوله سطحه باندې په داسي قوت سره عملي شي چه ميله په بشپړه توګه د طبقې تر بيخه پورې ښخه شي. کله چه ټيوب په مکمل ډول ډك شي، بيله ځنده ټيوب په ډير احتياط سره اوچتيږي، هڅه وشي چه د اوچتولو په دوران کې ځای پر ځای شوې مساله ونه خوځيږي. کانکريټو ته اجازه ورکړل شي چه آزادانه کښيني ،د نمونې شړيدل شوې برخې عمودي اندازه په ملي متر سره ثبت شي چه هغې ته سلمپ يا شړيدنه وايي. لاندنی جدول د شړيدني منلې شوې کچه د ډول ډول کانکريټولپاره را ښيي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ۱-۱

**منل شوې شړيدنه (سلمپ) د مختلفو کانکريټي مخلوطو لپاره: جدول ۱-۱**

| شميره | د کانکريټو ډول Type of Concrete | سلمپ په ملي متر سره |
|---|---|---|
| ۱ | د سړك لپاره کانکريټ Concrete for road work | ۲۰ تر ۳۰ |
| ۲ | پو ښښ او بيم ط Beam and slab | ۵۰ تر ۱۰۰ |
| ۳ | پايه، استنادي ديوالونه او همدارنگه نري عمودي کارونه Column, retaining walls and thin vertical members, etc. | ۷۵ تر ۱۵۰ |
| ۴ | غير جذبونکي کارونه Impermeable works | ۷۵ تر ۱۲۰ |
| ۵ | لړزه شوی کانکريټ vibrated concrete | ۱۲ تر ۲۵ |
| ۶ | حجيم کانکريټ Mass concrete | ۲۵ تر ۵۰ |

## دوهم څپرکۍ

## د مخلوط د تناسب اټکلونه
## Concrete Mix Design

**د مخلوط لپاره عمومي معيارونه:**

د مخلوط اټکلول اومحا سبه کول د يوه مثال په ترڅ کې په لاندې ډول سره تشريح کيږي. لاندې معيارونه و انګيرل شي (فرض کړل شي).

۱. د سمنټو مخصوصه وزن ۳،۱۵
۲. جغل او ريګ د ښه کيفيت لرونکي او د عمومي قبول شويو مشخصاتو په چوکاټ کې لکه ASTM-C33 او ASTM-C331 سره مطابقت و لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳.په داش کې وچ شوې کټه دانه جغل مخصوصه وزن ۲،۶۸ او د اوبو جذبیت ۰،۵٪ ( Absorption percentage )

په داش کې وچ شوي میده دانه جغل ۲،۶۴ او د اوبو جذبیت ۰،۷٪ ( Absorption percentage )

## د مخلوط د تناسب د محاسبه کولو مثال

کانکریټ په سختي سړې هوا کې، چه د کنګل کیدو ا و ویلي کیدو له دوران سره مخا مخ کیږي تولیدیږي. د سا ختمان د ایجا باتو په نظر کې نیولو سره سم د کانکریټو فشاري مقاومت په ۲۸ ورځوکې۳۰ میګا پاسکاله په نظر کې نیول شوی. نظر پخواني تجربی ته دستګاه یو رنګه مشابه مخلوط تولیدوي، چه د مخلوط د تولید توپیر ۱۰ % اټکل کیږي. یعني په لسو ټیسټو کې د یوه ټیسټ نتیجه د ډیزاین شوې مقاومت په ۲۸ ورځو کې ۳۰ میګا پاسکال څخه ټیټیږي.
ACI-214 مادي مطابق، شکل (۱-۲) ته پاملرنه وشي. متوسط ۲۸ ورځنی مقاومت ۳۰ میګا پاسکال باید ۳۰x۱،۱۵=۳۵ میګا پاسکال ونیول شي.

د ساختمان پنډوالی کوم چه کانکریټ کیږي او د سیخانو فاصلي څخه دا سي څرګندیږي چه هغه جغل چه په مخلوط کې د استعما ل وړدي، دد انو غټواله یې د ۴۰ ملي مترو څخه تر ۴،۷۵ ملي مترو پورې وي چه په ساحه کې موجود دي. د مخلو ط د قوي ټیك کولو لپاره قوي وایبریشن ( لړزه) آله شتون لري چه ډېر سخت (very stiff ) مخلوط په بشپړه توګه ټیك کولی شي. د وچ شوي غټ جغل کثافت ۱۶۰۰ کیلو ګرامه په یوه متر مکعب کې دي. څنګه چه چاپیر یال ډیر سوړ او خطرناك دی له دې کبله د هوا لرونکې کانکریټ استعمالول پکاردي. چه تناسب یې په لاندې ډول محاسبه کیداشي:




شکل ۱-۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

که ۲-۲ انځور(شکل) ته پاملرنه وشي، لیدل کیږي چه د اوبو او سمنټو نسبت د وزن له مخې (۰،۴)دي ، کله چه د کانکریټو د ۲۸ ورځو مقاومت ۳۵ میګا پاسکاله وي او هوا لرونکی کانکریت وي.




شکل ۲-۲

په داسې حال کې چه ډیر سخت (very stiff) مخلوط لاس ته راشي، او هوا لرونکی کانکریټ وکارول شي، د غټ جغل اندازه ۴۰ ملي مترو ته ورسیږي، د اوبو اندازه ۱۳۰ کیلو ګرامه اټکلیدای شي. د۳-۲ او ۴-۲ دانځورونو له مخې د هوا اړینه اندازه، د نرم مخلوط لپاره ۴،۵ سلنه را ښیي چه د هوا داخلیدل د زیاتګي محلول Admixture په ذریعه په مخلوط کې ګډیږي. د هوا دداخلولو زیاتګي محلول Admixture کله چه په مخلوط کې ور زیاتیږي باید د مایع په شکل د او بویوه برخه محسوبه شي. څرنګه چه موږ مخلوط ډیر سخت (very stiff) په نظر کې نیولی دی، نو د هوا پورتني اندازه لږ څه را کمه شي، تر څو ډیر سخت مخلوط لاس ته راشي یعني ۳ سلنه نیول کیږي، د ۵-۲ انځورپا ورقی ته مراجعه وشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ۳-۲

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ۴-۲




شکل ۵-۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پورتنيو پراګرافو په مرسته د سمنټو اندازه داسې اټکليدای شي ۱۳۰/۰،۴= ۳۲۵ کيلو ګرام په يوه متر مکعب مخلوط کې د پارټلنډ سمنټ.

د ۶-۲ انځور له مخې چيرته چه د غټ جغل اندازه ۴۰ ملي متره وي او د ريګ د ميده ګۍ مډل( Fineness Modulus ) ۲،۸۰ وي،دوچ شوي غټ جغل اندازه ۰،۷۱ متر مکعب، په هر متر مکعب کانکريټ کې ده، چه ۷۵ تر ۱۰۰ ملي متره پورې سلمپ( شړيدنه)ولري.




شکل ۶-۲

۲-۷ انځور،د ډير سخت (very stiff) مخلوط لپاره دی، چه د غټ جغل اندازه بايد ۱۲۵ % د نرم مخلوط په پرتله وي ۱،۲۵ x ۰،۷۱=۰،۸۹ متر مکعب، چه په دې ترتيب د وزن له مخې ۱۶۰۰x۰،۸۹=۱۴۲۴ کيلو ګرامه کټه دانه جغل د يو متر مکعب کانکريټ لپاره پکار دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ۷-۲

څنګه چه د سمنټو، اوبو، غټ جغل،اود هوا اندازې ځرګندې شوې، د میده جغل(ریګ) اندازه په لاندې ډول ټا کل کیدای شي:

د سمنټو ډك حجم = ۱۰۰۰ x۳،۱۵\۳۲۵ =۰،۱۰۳ متره مکعبه

د او بو حجم = ۱۰۰\۱۳۰ =۰،۱۳۰ متره مکعبه

د غټ جغل ډك حجم =۱۰۰x۲،۶۸\۱۴۲۴ =۰،۵۳۱ متره مکعبه

د هوا حجم =۰،۰۳۰x۱ =۰،۰۳۰ متره مکعبه

د ټو لو اجزاؤ حجم بیله ریګه **= ۰،۷۹۴ متره مکعبه**

د ریګ حجم = ۱- ۰،۷۹۴ = ۰،۲۰۶ متره مکعبه

د وچ شوي ریګ اړین وزن = ۱۰۰۰ x۲،۶۴ x۰،۲۰۶ = ۵۴۴ کیلو ګرام

د وچ شوي میده جغل د اوبو جذبیت اندازه (۰،۰۰۷x۵۴۴ ) = ۳،۸۰۸

غټ جغل (۰،۰۰۵x۱۴۲۴) =۷،۱۲

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول = ۱۱ کیلو
گرامه

د یوه متر مکعب کانکریټو د اجزاؤ اندازه:

سمنټ = ۳۲۵ کیلو گرامه
اوبه (۱۳۰ + ۱۱ ) = ۱۴۱ کیلو گرامه
وچ شوي ریګ = ۵۴۴ کیلو گرامه
وچ شوي غټ جغل = ۱۴۲۴ کیلو گرامه

د هوا دد اخلولولپاره زیاتګي محلول (Admixture) = څومره چه د ۳٪ هوا لپاره پکاریږي.
په پورتني مثال کې غټ جغل او ریګ په تندور یا داش کې وچ شوی په نظر کې نیول شویدی، مگر په ساحه کې عملاً داسې وچ جغل او ریګ شتون نلري، پکارده چه لمړی په ساحه کې د موجود جغل او ریګ لوندوالی په لابراتوار کې معلوم کړل شي. د مثال په ډول آزمیښت وښوده چه په ساحه کې موجود جغل ۱٪ او ریګ ۵٪ اوبه لري، اوس د پورتني مثال اجزاوې داسې برابروالای شو.
وچ شوی ریګ ۵۴۴ کیلو گرامه، په ساحه کې دلانده ریګ اندازه = ۵۴۴x ۱،۰۵ = ۵۷۱ کیلو گرامه، همدارنګه د لانده جغل = ۱۴۲۴x ۱،۰۱ = ۱۴۳۸ کیلو گرامه پکار ده.

په جغل کې د موجودو اوبو بر سیره ، هغه اوبه چه جغل یې له ځانه سره ساتي یا جذ بوي، د مخلوط د اوبویوه برخه وګڼل شي. څنګه چه د ریګ جذابیت په پورتني مثال کی ۰،۷ % او د جغل ۰،۵ % ښودل شویدي. په ریګ کې موجودې اوبه ۵ – ۰،۷ = ۴،۳ %. په جغل کې موجودي اوبه = ۱ – ۰،۵ =۰،۵ %. دارنګه په ریګ کې د موجودو اوبو اندازه = ۵۴۴x۰،۰۴۳ = ۲۳ کیلو گرامه، اوپه جغل کې د موجودو اوبو اندازه = ۱۴۲۴x۰,۰۰۵ =۷ کیلو گرامه، پس د مخلوط لپاره د اړینو اوبواندازه = ۱۳۰- (۲۳ + ۷ )=۱۰۰ کیلو گرامه ده.
د یوه متر مکعب کانکریټو د اجزاؤ لپاره محاسبه په پورته ډ ول ترتیب شوه، مگر هر چیرته او هر وخت داسې مکسر چه یو متر مکعب ظرفیت ولري ،وجود نلري، پکارده چه دا اندازې د مکسر د ظرفیت سره عیارې شي. یعني که د مکسر ظرفیت ۰،۵۵ متر مکعبه وي، د مخلوط وچې اجزاوې په لاندې ډول سره سنبال شي.

سمنټ = ۰،۵۵x ۳۲۵ = ۱۷۹ کیلو گرامه
ریګ (لوند) =۰،۵۵x ۵۷۱ = ۳۱۴ کیلو گرامه
جغل ( لوند) = ۰،۵۵x ۱۴۳۸ = ۷۹۱ کیلو گرامه
اوبه چه باید ګډې شي = ۰،۵۵x ۱۰۰ =۵۵ کیلو گرامه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دريم څپرکۍ

## کانکريټ اچول په سړه هواکښې
## Placing Concrete in Cold Weather

کله چه دهوادحرارت درجه درې ورځې په متواترډول د۵ او۱۰درجي سانتي ګريډترمنځ واقع شي سړه هواورته ويل کيږي.

د سړې هواتأثيرپه لندو کانکريټو باندې دادي چه له يوې خوادهغه کيميايي عمليي سرعت چه دکانکريټ دجوش په وخت کې دهغه دترکيب شوي موادوترمنځ واقع کيږي کموي ،له بلې خوااوبه په کانکريټ کې په يخ بدليږي اودکانکريټ دپړسوب باعث ګرځي اويوه تخريبوونکي قوه په کانکريټ کې پيدا کيږي .

نه يوازې سړه هوادکانکريټ په جوش اوټينګښت باندې منفي اغيزه لري،بلکه دکانکريټ دآخرني ټينګښت پروسه هم ځنډوي.که تازه اچول شوی کانکريټ دهوا په صفر درجې دسانتي ګريډ کې د۲۸ورځولپاره وساتو نوممکنه ده چه کانکريټ ۵۰ سلنه خپل ټينګښت لاس ته راوړي،اوکه دکانکريټ ساتنه دحرارت په منفي ۱۰ درجو دسانتي ګريډکې وکړل شي نو ممکنه ده چه يوازې ۳۰سلنه خپل ټينګښت لاس ته راوړي. په سړه هواکښې دکانکريټ داچولولپاره نه يوازې مناسب ګامونه واخستل شي بلکه ضروري ده چه قالبونه هم دډيرې مودې لپاره لرې نکړل شي که څه هم دموادو په قيمت کې اودکارګروداضافي کارله امله مصرف زياتيږي اودپروژې دتکميليدوموده کې ځنډراځي.

په سړه هواکښې دکانکريټ داچولولپاره دا ضروري ده چه دهوادحرارت درجه دکانکريټ داچولواودساتلوپه وخت کې يوشان وساتل شي.برسيره پردې، اچول شوی کانکريټ په قالب کې بايددبيرون له خوانه دتختې يادترپال په وسيله وپوښل شي.په معتدل اولړوسختوحالاتوکې داستونځه کيدای شي چه دسمنټودمقداروپه زياتولو، يادزودجوشوسمنټوپه استعمالولوسره اوياهم دلوړوالمونيم اکسايډلرونکي سمنټ په استعمالولوسره حل شي.بعضې وخت دکانکريټ دژرجوش اودکانکريټ دحرارت دلوړلولپاره، ګړندي کوونکي کيمياوي موادلکه د کلسيم کلور ايداستفاده کول ګټوردي.

په هرصورت،دکانکريټ دجوړولولپاره په سړه هواکښې چه په نتيجه کې دجوړشوي کانکريټ دحرارت درجه تر ۳۸ دسانتي ګريډ نه کم وي ،جغل يا اوبوته اوياهم دواړوته حرارت ورکول عامه طريقه ده.
دکانکريټ دجوړولونه مخکې اوبوته چه کانکريټ کې اچول کيږي، حرارت ورکول ډيره مؤثره دي. داوبودحرارت درجه دکانکريټ جوړولوپه وخت کې بايد دسانتي ګريډ۶۰ درجې وي.اودجغل دحرارت درجه هم تر۱۵درجې دسانتي ګريډ پورې وي.

دکانکريټ دجوړولولپاره په سړه هواکښې کيدای شي چه ريګ ته تر۴۰درجې دسانتي ګريډ پورې حرارت ورکړل شي که داوبودحرارت درجه دمخلوط په وخت کې ۶۰درجې دسانتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرېدوي.په جغل کې دبخاردپیپونودځای پرځای کولوپه واسطه کولای شوچه جغل ته حرارت ورکړو.

په سړه هواکښې وروسته له هغې نه چه کانکریټ واچول شي بایدهرڅومره ژرچه ممکنه وي وپوښل شي چه دیخ وهلونه وژغورل شي اوخپل موجوده حرارت له لاسه ورنکړي.ددې کارلپاره کیدای شي چه دسمنټودخریطو، دترپال اودوچووښونه کاروا خستل شي.که هواډېره سړه وي یادهوادحرارت درجه نږدې یادصفرلاندې وي،ضروري ده چه دکانکریټ دګرم ساتلولپاره اضافي تدابیرونیول شي یعنې دکانکریټ په محوطه کې دبخاریویادبخاراویاهم دګرمواوبودپیپونونه استفاده وشي.

## کانکریټ اچول په توده هواکښې
## Placing Concrete in Hot Weather

دنارمل کانکریټ دلاس ته راوړلوپه خاطرچه په ۲۸ورځوکښې خپل اعظمي کلکوالی لاس ته راوړي،بایددکانکریټ دحرارت درجه دسانتي ګریډد۱۵ او۲۵ درجو ترمنځ وي.که دکانکریټ اچول په ډېره ګرمه هواکښې ترسره شي،دسمنټودهایدریشن پروسه ډېرپه چټکۍ سره صورت مومي اودکانکریټ اوبه ډېرژروچیږي اوپه کانکریټ کې دفشاردتولیدیدوباعث ګرځي چه په نتیجه کې په کانکریټ کې درزونه پیداکیږي اوکانکریټ تخریبیږي.
کله چه په ډېره توده هواکښې کانکریټ اچوواووکولا ی شوچه دتودې هواتأثیرات په کانکریټ کې کم کړو،لاندني نقطي بایدپه پام کښې ونیسو.

۱. دیوې مخصوصې مادې ( Retarding agents)په اضافه کولوسره کیدای شي چه دسمنټو د
هایدریشن عملیه سسته کړي.

۲. دکانکریټودموادودحرارت درجه په معینه اندازه ټیټه وساتل شي .
دکانکریټودموادوغونډول یاانبارول په سیوري کښې اوهمداشان دیخواوبوپاشل په غونډشوي
مواد باندې کولی شي چه دموادودحرارت درجه ټیټ کړي.

۳. دیخواوبوڅخه دکانکریټ په جوړولوکښې کاراخستل. په بعضومشخصوحالاتوکښې دکانکریټ په
جوړولوکښې دکنګل ماتې شوې ټوټې هم کارول کیږي.چه دکانکریټ دحرارت درجه په معینه توګه
کنټرول کړي.

۴. آماده شوی کانکریټ بایدژرترژره انتقال اوریخت شي. ترڅووکړل شي چه دکانکریټودضایعاتومخه
ونیول شي. چه دهوادحرارت ددرجې لوړیدل دکانکریټوداوبودتبخیرباعث ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵. دکانکریټوداچولونه مخکې بایدپه قالب اوسیخانوباندې اوبه وښیندل شي ترڅودکانکریټواوبه
ددغوموادوپه وسیله جذب نشي.

۶. کاربایدپه ډیره چټکۍسره پای ته ورسیږي څکه دځنډپه صورت کښې توده هواپه کانکریټ باندې
بداغیزه لري.

۷. کله چه کانکریټ واچول شو،کانکریټ بایدپه مناسب ډول وپوښل شي ترڅودلمر دوړانګو نه خوندي
وي. کانکریټ بایدداولوڅوساعتونولپاره په دوامداره توګه اوبه ووهل شي اووروسته له هغې نه د
کیورینګ په موده کې کانکریټ ترآخره پورې لانده وساتل شي.

## دکانکریټودساتنې پروسه
## Curing of Concrete

دکانکریټوداچولونه وروسته یوله ډیرومهمواړتیاؤڅخه دکانکریټودساتنې پروسه ده. کله چه
کانکریټ واچول شي دکانکریټولانده ساتل دڅومتواتروورځولپاره ، ترڅوچه کانکریټ خپل
ټاکلې ټینګښت ترلاسه کړي دي پروسي ته دکانکریټودساتنې پروسه ویل کیږي. داثابته شوې ده
چه دکانکریټو دلانده ساتلوموده دکانکریټ په کلکوالي کې خورا زیات مثبت اثرلرلاي شي یعنې
څومره چه په کافي اندازه کانکریټو ته اوبه ورکړل شي هغومره دکانکریټو په ټینګښت کې
زیاتوالي راځي.
په دې موده کې، کانکریټ اوبه جذبوي ترڅو کیمیاوي عملیه بشپړه شي اوکانکریټ خپل
ټینګښت لاس ته راوړي. کانکریټ وروسته له اچول کیدونه، په لومړنیوڅو ورځوکې په چټکۍ
سره خپل ټینګښت پیا وړي کوي اووروسته له هغې نه دټینګښت دلاس ته راوړنې په عملیه کې
سستوالي را ځي. دکانکریټودساتنې دپروسې موده دهوادحرارت درجه اولندبل اودباددسرعت
سره تړاولري. په مجموع کې دکانکریټودساتنې پروسه باید د۷نه تر ۱۰ورځوپورې وي. په
سړه هواکښې دکانکریټودساتنې پروسه بایدتر۱۴ورځوپورې دوام وکړي څکه چه
دسمنټودټینګښت سرعت په سړه هوا کې کم وي. د کانکریټو ښه او مناسبه ساتنه دکانکریټ د
پایښت (مداومت) اوداوبو د نه جذبیدو (Impermeability) دقوې دلوړیدوسبب ګرځي . کله
چه کانکریټ داوبودفشار اویا دهوادسختوحالاتوسره مخا مخ وي یکا رده چه خاصه پاملرنه
ورته وشي. دکانکریټ سمه ساتنه دکانکریټو مقاومت دسولیدنې په مقابل کې ډیروي او
دکانکریټ غونجیدنه (انقباضي) خاصیت کې کمښت راولي.
دکانکریټ دسمې ساتنې لپاره دالاندې طریقې وکارول شي:

۱. دکانکریټ سطحه دنمداره ریګ،خاوري، ګوني یا کڅوړو اوداسې نوروشیانوباندې وپوښل
شي،اوپه یوې منظمې او ټاکلي وقفې سره اوبه ورباندې وپاشل شي ترڅود کانکریټو پوشش لوند و
ساتل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲. دغولې اوهمداسې نورې افقې سطحې برسيره بايددخاوروواوياهم دريګوڅخه مربع شکله حوضچې
جوړې شي او د۵ څخه تر۸سانتي مترو ژوروالي پورې اوبه پکښې ډندې شي.

۳. دستنو،ديوالونواونوروعمودي سطحولپاره،بايددګونې کڅوړو ياهم دټاټ له ټوکرڅخه
کاروا‌خستل شي،دګونې کڅوړو اويادټاټ ټوکرپه يادشووسطحوباندې وپيچل شي اوپه دوامداره
توګه لوندوساتل شي.

## دکانکريټومخلوطول
## Mixing of Concrete

دکانکريټودمخلوطولوپه وخت کې بايدډيره پاملرنه وشي ترڅوموادپه سمه توګه سره ګډ شي.
دکانکريټودمخلوطولولپاره لاندې دوې طريقې کارول کيږي:

الف) په لاس سره ګډول (Hand Mixing)
ب) په ماشين سره ګډول (Machine Mixing)

**الف) په لاس سره ګډول:**

کله چه ديوکوچني کارلپاره ډيرلږکانکريټ ته اړتيا وي،ياپه داسې ځاى کې چه ماشين نه پيداکيږي اوياهم دهغې دړغ په لحاظ کارنه ځنې اخستل کيږي،نوددې طريقې څخه استفاده کيږي.ددې کارلپاره بايديوه پاکه،کلکه اوداوبونه جذبوونکې سطحه آماده شي.اول بايدسمنټ اوريګ دبيل په واسطې ښه ګډشي ترڅوجوړشوى مخلوط يورنګ غوره کړي،وروسته دجوړشوي مخلوط سره جغل اضافه شي اوترهغه وخته دې سره ګډشي ترڅوچه جغل په مناسبه توګه دسمنټواوريګ سره مخلوط شي،وروسته دې لازمې اوبه وراضافه شي اوښه دې سره مخلوط شي ترڅوداستفادې وړکانکريټ لاس ته راشي. دې طريقې سره ۱۰فيصده سمنټ نظرمحاسبه شوي سمنټوته زيات مصرفيږي.

**ب) په ماشين سره ګډول:**
دمخلوط ماشينونه په دوه ډوله دي.
Continuous Mixers-
Batch Mixers-

Continuous Mixers
هغه ماشينونه دي چه په ډيرولويوکارونوکې ځيني کاراخستل کيږي. چه په اتوماتيک کنټرولي آلې
باندې مجهز دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Batch Mixers
هغه ماشینونه دي چه په کوچنيوکارونوکې ځني کاراخستل کيږي.اول جغل بياريګ اوورپسې سمنټ ماشين کې اچول کيږي اودتاويدلوپه حالت کې په مناسبه پيمانه اوبه ورزياتي شي.کانکريټ بايدد۱،۵ څخه تر۲دقيقوپورې مخلوط شي.

## دکانکريټوانتقالول
## Transportation of Concrete

کانکريټ له جوړيدلونه وروسته بايدپه ډيرلږوخت کې انتقال اوپه قالبونوکې واچول شي.مختلفې طريقې دکانکريټ دانتقالولولپاره موجودې دي.
اوسپنيز لوښی
لاسي کراچۍ
دمټرک
مخلوط کوونکی موټرونه
جرثقيل
کرين
پمپ کول
دکانکريټودمقداراودکاردانداز‌ې دځرنګوالې په نظرکې نيولوسره کولای شوچه دانتقال وسايل انتخاب کړو.دکوچنيوکارونولپاره دکانکريټ دانتقالولوپه خاطرکيدای شي داوسپنيزولوښونه اويا هم دلاسي کراچيونه کاراخستل شي.که دکانکريټودجوړولوځای دکاري ساحې نه ډيره فاصله ولري (تر۵کيلومتره پورې)کيدای شي چه دمخلوط کوونکي موټرونوڅخه کاراخستل شي. دلوړوودانيولپاره دکانکريټ د انتقال په خاطر دجرثقيل څخه کاراخستل کيږي. دپمپ کولودطريقې نه په ډيرولويوکارونوکې کاراخستل کيږي چيرته چه ډيرکانکريټوته اړتيا وي.ددې طريقې نه کيدای شي چه دلوړوودانيولپاره هم کاراخستل شي،دپمپ دطريقې په واسطه کيدای شي چه په عمودي شکل تر۸۰متروااوافقي شکل تر۴۰۰متروپورې کانکريټ پمپ کړو.

## دکانکريټوځای پرځای کول
## Placing of Concrete

دکانکريټودمخلوطولونه وروسته هڅه وشي چه تيارشوی کانکريټ تر۳۰دقيقوپورې ځای پرځای شي.مخکې له دې نه چه کانکريټ په قالبونوکې ځای پرځای کيږي،قالبونه بايددخاورواواضافي مواودنه پاک شي،اوددې په خاطرچه دکانکريټ اوبه دقالبونوپه وسيله جذب نشي،اودقالب دلرې کولوپه وخت کې کانکريټ په قالب پورې ونه نښلي،قالبونه بايددګريسواويامبلايلوسره غوړشي.دکانکريټودځای پرځای کولوپه وخت کې بايدډيره پاملرنه وشي چه کانکريټ دلوړې مسافې څخه وانه چول شي.کانکريټ بايدپه طبقه ييزډول واچول شي،چه دهرې طبقې پنډوالی د۱۵نه تر۳۰سانتي متروپورې وي،اومخکې له دې نه چه دوهمه طبقهورباندي واچول شي،لومړنۍ طبقه ښه ټپک شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دکانکریټوټپک کول
# Compaction of Concrete

دکانکریټوټپک کول بایدوروسته دکانکریټ له اچولونه ژرژره ترسره شي. دید لپاره چه د هواپوکانې خارجي، کانکریټ غیرقابل نفوذاوپه کافي اندازه خپل ټینګښت ترلاسه کړي کانکریټ ټپک کول اړین دي.دکانکریټوکتله بایدترهغه تپک شي ترڅودسمنټوشیره دکانکریټوپه سطحه باندې ښکاره شي.
که ټپک دکانکریټوله حدنه اضافه ترسره شي نودکانکریټودترکیبي اجزاوودبیلیدو(Segregation) سبب ګرځي،اوکه لږ تپک شي بیاپه کانکریټ کې خالیګاه پاتې کیږي، له دي کبله پکارده چه په معینه اندازه سره ټپك کاري صورت ونیسي .تپک ممکنه ده چه په لاس اویاهم میخانیکي وسیلې سره اجراشي.

دکانکریټوټپک کول دلاس په ذریعه کیدای شي چه دیوې میلې یاسیخ په وسیله ترسره شي.
دکانکریټومیخانیکي ټپک کول داهتزازي آلې (Vibrator) په وسیله ممکنه ده. دکانکریټوټپک کول داهتزازي آلې په وسیله ډیره ضروري ده مخصوصاً په ډیرومهموکارونوکې اویاچیرته چه د سیخداره کانکریټوڅخه استفاده کیږي.

اهتزازي آلې په څلورقسمه دي.
- داخلي اهتزازي آله (Internal vibrators)
- خارجي اهتزازي آله (External vibrators)
- سطحي اهتزازي آله (Surface vibrators)
- میزډوله اهتزازي آله (Vibrating Tables)

داخلي اهتزازي آله مخصوصاً دلویوکارونواو دهمواروسطحودتپک کولوپه خاطر لکه دپوشش کانکریټ اوداسي نوروځایونوکي استعمالیږي.

خارجي اهتزازي آله دکم ضخامت لرونکوسطحولپاره چیرته چه دداخلي اهتزازي آلې څخه استفاده نشي کیدای استعمالیږي.داډول اهتزازي آله دقالب شاته تماس ورکول کیږي ترڅوکانکریټ په قالب کې ټپک کړي.

سطحي اهتزازي آله دپلونودفرش دتپک کولولپاره کاریږي.
میزډوله اهتزازي آله دفابریکه یي کانکریټودتپک لپاره استعمالیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# څلورم څپرکی

## د نړی زلزله لرونکې سیمې

د زلزلو  د مرکزونو له تثبیت نه وروسته معلومه شوه چې د ځمکې دکرې  په ټولو سیمو کې یوشان زلزلې نه وي. په ځینو سیمو کښې هر کال بې شمېره زلزلې او په ځینو کښې بیاهېڅ زلزلې نه دي لیدل شوې.
د لاس ته راغلو معلوماتو له مخې ویلی شو چې په سلو کښې ۹۰ زلزلې دځمکې دکرې په دوو کمربندونو کښې منځ ته راځي.

۱. د ارام سمندر کمربند: دا زلزله لرونکی کمبربند داسیا له سواحلو نه تېرېږي داسترالیا دشمال او ختیځ      په لور غځېږي او د جنوبي اوشمالي او امریکا تر لوېدیځو سواحلو پورې رسېږي. دا چې نومونړی
کمربند د ارام سمندر د نیمایي نه زیاته برخه نیولې نو ځکه دهغه په نوم یادېږي. په دې کمر بندکښې
دنړۍ په سلو کې ۸۰ زلزلې منځ ته راځي چې زیاتره یې ژورمرکز لري. د جاپان او فلپاین اوسپدونکي
ترینه زیان مومي.

۲. د مدیترانې کمربند: د پرتګال نه شروع کېږي. د مدیترانې له حوزې ، تورې بحیرې، منځنۍ اسیا او
همالیا نه تېرېږي تر اندونیزیا پورې رسېږي. د دې کمربند یوه څانګه د بایکال د جهیل په لور غځېدلې        ده د ځمکې د کرې په سلو کښې ۱۷ زلزلې په همدې کمربند پورې اړه لري ..
له دې دوو کمربندو څخه د باندې په نورو سیمو کې په سلو کښې درې زلزلې منځ ته راځي. د اسیا او
اروپا په شمالي برخو کښې تر اوسه د زلزلو مرکزونه ثبت شوي نه دي  داسې معلومېږي چې په دې
سیمو کښې زلزلې منځ ته نه راځي.
د پورتنیو معلوماتو نه داسې قانونمندي لاس ته راځي: په هغو سیمو کښې چې غرونه او درې ډېرې
وي هلته زلزلې هم زیاتې منځ ته راځي اوهلته چې غرونه او درې نه وي ځمکه هواره د ښته وي، لکه د
سایبریا لوېدیځه برخه او لوېدیځه اروپا نو  هلته زلزلې هم نه راځي.
ډېره په زړه پورې خبره داده چې دځمکې دکرې پر مخ د زلزلو کمربندونه اود اور غورځونې (اتش
فشان) کمربندونه دواړه یو ځای پراته دي. له دینه معلومېږي چې دواړه پېښې یو په بل پورې تړلې او
یوه سر چینه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په افغانستان کې زلزلې

تر هغه ځايه چې جيولوجيکي څېړنو ښوولې ، زموږ هيواد د ځمکې د کرې په يوه فعال زلزله لرونکي
کمر بند کې پروت دی چې دا کمر بند د ( مديترانی کمربند ) په نامه يادېږي . د پرتګال نه شروع کيږي ، د مديترانې له حوزې ، تورې بحيرې ، ترکيې ، ايران ، افغانستان او هماليا څخه تيرېږي او بالا خره تر اندونيزيا پورې رسيږي .
په دې سيمو کې د تاريخ په اوږدو کې ډيرې زياتې زلزلې راغلې چې د زرګونو انسانانو د مرګ او ژوبلې سبب شوي دي .
افغانستان چې په همدې کمربند کې پروت دی ،د زلزلو ډير خونړی تاريخ لري چې د بيلګې په توګه يې د يو څو زلزلو يادونه ضرور بولم :

١. په ١٨٤٢ م کال کې د فبروری په ١٨ نيته د کابل په ښار کې يوه زلزله راغلې وه چې درې دقيقې يې
دوام کړی و، او د شپې له خوا هم څو ځلې په بيا بيا احساس شوې وه .که څه هم ددې زلزلې مرکز په
کابل کې و خو د جلال اباد په ښار کې هم دومره شدت درلود چې دهغه ښار يو پر درې برخه يې په
کنډواله بدله کړه .دې زلزلې په کابل کې هم ډيرې ولاړې ودانی د خاورو په ډيری بدلې کړې وې .

٢. 1874 م کال د اګست مياشت وه، اودا هغه وخت دی چې په افغانستان کې د امير شيرعلي خان
واکمني وه . د هندوکش په جنوبي برخه کې يوې زوروري زلزلې د جبل سراج او ګلبهار د سيمو زياتې
برخې له خاورو سره برابرې کړې . دهغه وخت د خرابيو او ويجاړيو ځنې نښې نښانې اوس هم هلته تر
سترګو کيږي.

٣. د 1934 م کال د مارچ د مياشتې زلزلې د ميمنې زياتې برخې خرابې او د زياتو انسانانو د مړينې سبب
شوه . ددې زلزلې مرکز د ميمنې د ښار په ١٨ کيلو متری کې پروت و.

٤. هغه زلزله چې په **1935** م کال د مئ د مياشتې په **30** نيته دبلوجستان د کويټې په ښار کې راغلې
وه د پنځوس زره انسانانو د مړينې په څنګ کې ، د زرګونو ودانيو د ړنګيدو سبب شوه . دې زلزلې په

(c) ketabton.com: The Digital Library

کندهار کې هم ځنې برخې هم زیانمنې کړې وې .

۵. په **1956** م کال د جون د میاشتې په 10 نیته یوې تبا کونکې زلزلې د لغمان ، کهمرد او بامیانو په
سیمو کې د زرګونو انسانانو د مړینې او د زرګونو ودانیو د ړنګیدو تر څنګ یې ، ډیر غرونه هم را
ونړول او زیاتې درې یې ویجاړې کړې .

۶. په **1998** م کال کې د فبرورۍ په ۱۸ نیټه د تخارولایت د رستاق په سیمه کې یوې سختې زلزلې چې
مرکز یې د ( ربا ط حامدین ) په کلي کې و ، د **٤٥٠٠** کسانو ژوند واخیست .د رستاق د ولسوالۍ د
( ۲٦ ) کلیو نه یې ( ۹ ) کلي په بشپړه توګه د خاورو په ډیرۍ بدل کړل .په دې خونړۍ زلزله کې د لس
زرو نه زیات څاروي هم له منځه لاړل .

۷. په **1998** م کال د مۍ د میاشتې په 30 نیټه ، د ورځې په یولسو بجو ، یو ځل بیا یوې سختې زلزلې
د تخار او بدخشان سیمې ولړزولې . د دې زلزلې مر کز د بدخشان ولایت ، د شهرې بزرګ په ( بوستان
دره ) کې و .او د **٥٠٠٠** انسانانو مړینه یې د ځان سره لرله .

۸. په **1999** م کال د فبرورۍ په 11 نیټه د کابل ښار په جنوب لویدیز کې ، د میدان ، وردګو او لوګر
په سیمه کې یوې سختې زلزلې چې د ریختر په مقیاس ( ٥،۹ ) درجې وه ( ٥٨٠٠ ) کورونه وران کړ ل .
د انسانانو د مړینې شمیر (٦٧ ) او د ژوبلو سلګونو ته رسیده . دې زلزلې د زرو څخه زیات څاروي هم
له منځه یو وړل .په دې زلزله کې انساني تلفات ځکه کم و چې د ماښام په شپږو بجو لومړی سپک
ټکانونه راغلل ، او خلک په بیړه له کورونو څخه ووتل ، که دا زلزله دشپې له خوا راغلې وای نو
کیدای شول ، ډیره مرګ ژوبله یې د ځان سره لرلې وای .

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دزلزلې په مقابل کې دودانیونقشه کول
## Earthquake Proof Building design

تر اوسه دزلزلې د پېښېدو د وخت،دزلزلې د پېښېدود ځای او دزلزلې د شدت دوړاندوینې په هکله ځه طریقه نده کشف شوې.چېرته چه زلزله پېښه شوې وي هلته بیا دپېښېدوامکان شته. دزلزلې په هکله دنړۍ او مملکتو په سطحه نقشې موجودې دي چه د شدیدې زلزلې ، منځنې زلزلې او کمزورې زلزلې سیمي را په ګوته کوي.

زلزله افقي او عمودي څپې لري چه مځکه خوځوي، افقي څپې نظر عمودي څپو ته د ۵نه تر ۱۰ ځله پورې قوي وي زلزله هرې خواته خوځښت لري. چه ډېره ورانونکې قوه یې په افقي خوځښت کې ده.

### دډیزاین لپاره عمومي کړنلارې:

په دیزاین کې هڅه وشي ترڅو چه انجینري،روغتیایي او د هوسا ینې ا صول اجازه ورکوي ودانۍ سپکه ډیزاین او جوړه شي.ددې لپاره چه دزلزلې دتخریب څخه څه نا څه مخنیوی شوی وي دودانیود دیوالونو پنډوالي او لوړوالي نه لومړۍ داغوره ده چه دودانۍ وزن سپك اوپه دواړوافقي ابعادو کې وداني ته پراخوالیورکړل شي. دامناسبه نه ده چه یوازې د تعمیر په اوږدوالي (طول) کې زیاتوالیړاشي. مربع شکله یا څنګ په څنګ مستطیل شکله نقشه غوره ده. دتعمیر داوږدوالي تناسب نظرپلنوالي ته په افقي ابعادوکې له ۳ نه تر ۱ پورې زیات نشي. په عادي ډول تړلی شکل، مربع،یا نږدي ودوي ته چی د U یا L شکل ولري غوره ده.

دودانۍ ټولې برخې باید یوله بله سره محکمې تړلې وي اوپه کنجوکې داسې مضبوطې ټینګې شوي وي چه د خوځښت په وخت کې ټوله ودانۍ په یوه واحد شکل خوځښت ومومي. د ودانۍ وتلې برخې لکه شریفې،پیکونه د ۷۵ سانتي مترو څخه زیاتې نشي. دودکش بایدد سیخداره کانکریټ او یا داوسپنوڅخه جوړه شي او دودانۍ داسکلیټ سره ښه ټینګ وتړل شي. بیروني وزن اوچتونکې دیوالونه ، منځني او نور دیوالونه یوله بله سره باید دودانۍ دهرپوړد غولې په سطحه کې په امتدادي سیخونویا سیخداره کانکریټو چه کافي طاقت ولري ښه ټینګ وتړل شي. د سمنټو مساله په ټو لو بنائي کارونو کې ولګول شي. یوه محکمه ودانۍ دخوځښت په وخت کې په چټکی سره خپل اصلي حالت ته راځي اودارتجاعي ودانیو څخه غوره والی لري.

په یو محکم فریم لرونکې (چوکاټي)سیستم کې چه مفصلونه یې په زانوخمې یا تخته یې جا ینتو باندې محکم شوې وي، افقي ګاډرونه د متقابلو دیوالونوپه ملتیا دودانۍ په ټینګښت کې اوهمدارنګه د انحنا یې مومنټ دزیاتیدوپه مخنیوي کې چه د افقي ګاډرو او عمودي ستنو باندې واردیږي مرسته کوي. ریونده مفصلونه د تعمیر په ټینګښت کې ډیر اثر لري.

تر څو ممکنه وي دټولې ودانۍ دثقل په مرکزکې کموالی را شي. دطولاني او عرضاني دیوالونوترمنځ انډولتوب اوتناظروالی پکارده. دزلزلې دقوې چپه کونکی مومنت دودانۍ دثباتي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مومنټ د ۵۰ فیصد څخه باید زیات نشي ددواړو مومنټونو په محاسبه کې دورته او کټ مټ بارونو څخه کار واخیستل شي.

ګاونډي ودانۍ یا یوه برخه دنوموړي ودانۍ چه د حجم او ټینګښت له کبله دبلې ودانۍ سره توپیر ولري دیوه کافي درزیا فاصلې په واسطه یو له بله څخه بیلې شي تر څو دیوالبل له وهلو څخه مخنیوی شوی وي، یا مضبوطې سره و تړل شي. د خالیګاه فاصله دیو پوړیزې ودانۍ ۱۰ سانتي متره او ددوه پوړیزې ودانۍ لپاره ۲۰ سانتي متره وي. اوپه نازکو موادو سره ډک شي ترڅو د زلزلې په وخت کې بیله دې چه ودانۍ متضرره شي مات شي. درز د تهداب تر آخره پورې ورسیږي او د ودانۍ له ټولو برخو څخه تیره شي

اعظمي فشارپه بنسټ باندې دژوندي او مړو بارونوله کبله د زلزلې له قوې سره دیوځای کیدو په حالت کې د ۱۰ فیصده د عادي محفوظ مجازواردشوي بارو څخه زیات نشي. دبعضې ملکونو په کودونو کې مرتب شوي کله چه وارد شوی مجازي فشار ۱۰ ټنه په یوه متر مربع باندې وي، دتهداب فشارکیدای شي تر ۱۰ فیصده زیات شي، او کله چه ۲۰ ټنه فشار په یوه متر مربع باندې وي تر۱۵ فیصده، چیرته چه ۴۰ ټنه په یوه متر مربع باندې وي، وارد شوی فشار د ۳۳ فیصدونه زیات لوړنشي.ژوندی موقت باربایددغولې دډیزاین شوې مړبارد۱ په ۳ سره مساوي وي. ، چه کم تر کمه ۱۰۰ کیلو ګرامه په یوه متر مربع کې ونیول شي(غیر له تحویلخانې نه).

هره ودانۍ اودهغې ټولې برخې بایدداسې ډیزاین شي چه دهرې دوامدارې افقي قوې دتولیدشوي مومنټ په مقابل کې مقاومت ولري. په ټیټوزلزله لرونکوساحوکې دتعمیرمقاومت باید۱۰فیصده اوپه قوي زلزله لرونکوساحوکې ۲۰ فیصده (دزلزلې دشدت په اساس) دواردیدونکې قوې نه زیات په نظرکې ونیول شي.
په بام باندې دژوندي باردمحاسبې نه کیدای شي صرفنظروشي، اما درهایشي ودانیودفرشونولپاره کیدای شي چه مساوي په ۳/۱دهغه بارونیول شي کوم چه فرش د هغه بارلپاره ډیزاین شوی وي چه کم له کمه ۱۰۰کیلوګرامه په یومترمربع کې وي .اوهمدارنګه دجرګوسالون، مکاتب اودګدامونولپاره ۳/۲ دمکمل بارپه نظرکې ونیول شي.
لوړپوړیزوودانیوکې دتعمیراسکلیټ (Structure) په هرپوړکې د افقي قواووپه مقابل کې ازمویل کیږي.
ودانۍ بایددباداودزلزلې دقوې په مقابل کې وڅیړل شي اودفشاردمحاسبې لپاره لوړقیمت په نظرکې ونیول شي.که دبادقوه نظردزلزلې دافقي قوې نه کم وي صرفنظردې ځنې وشي. افقي پریکنده قوه دی هم چک شي.دنوروقواوو دمحاسبې طریقه دباددقوې دمحاسبې سره یوشانتې دی.ودانۍ دې داسې ډیزاین شي چه دزلزلې دقوې مومنټ دودانۍ دهیڅ برخې دچپه کیدوسبب ونه ګرځي.دزلزلې افقي قوه دودانۍ دوزن په تناسب زیاتیږي.نوځکه دسپک موادوپه کارولوسره دزلزلې افقي قوه هم کمیږي.مخصوصاًبام اودودانۍ پورتني پوړونه بایدترحددامکان پورې سپک ډیزاین او جوړشي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دودانیو بڼه (Shape of building)

ددې لپاره چه د زلزلې په وخت کې دودانۍ تاویدنه (torsion) کم کړای شو، لکه څنګه چه پورته یادونه وشوه، ودانۍباید مستطیل او د کتلې او ټنګښت له نظره متناظر شکل ولري، تر څو ممکنه وي چه هندسي اودثقل مرکزونه یې یو پر بل باندې تطبیق شي.تناظردودانیو په پلان (asymmetrical section)، جګواله (elevation) او کتله (mass) کې چه دتاویدنې او داسې نورو اثراتو د مخنیوي لپاره چه دزلزلې له امله په ودانیو کې پیداکیږي اړین دي، یا دودانیوځنې محکمې پره واله برخې سره بیلې شي. دداسې ودانیو اوږدوالی د بیلې شوي برخې څخه د ودانۍ د پلنوالي له ۳ ځله څخه زیات نه شي.

ودانۍ چه د (L,T,E and Y) شکل ولري، غوره ده چه په مستطیلي شکلونوسره په لاندې ډول بیلې شي.




شکل ۱-۴

## دودانیوډولونه (Type of construction):

هغه ډولونه چه معمولاً دودانیولپاره په نظرکې نیول کیږي په لاندې ډول دي.

الف) فریم لرونکې جوړښت یاشکل

ب) بکس ډوله جوړښت

### الف) فریم لرونکې جوړښت یا شکل (Framed construction):

داډول جوړښت اویاشکل دڅوپوړیزواوصنعتي ودانیولپاره مناسب دي. ځکه چه فریمونه یې ارتجاعي مفصلونه(flexible joints) استوارورونکي عنصرونه(bracing members) لري. څوپوړیزه اوسپنیزه ودانۍیاصنعتي فریمونه اودچارتراشوودانۍ ددې ډولونونه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

داشان ودانۍ بايددافقي قواووپه مقابل کې دپريکنده قواووددېوال(shear wall) اوياهم دنوروواستوارؤنکو عناصرو(bracing members)په واسطه په پلان (plan)،جګوالی (elevation) اومقطع (section) کې تقويه شي چه دزلزلې قواووپه مقابل کې مقاومت وکړی شي.
فريمونه بايددسيخ لرونکي کانکريټ (R.C.C)يا اوسپنيزه نيمه محکم اويامحکم مفصل لرونکي وي.
ديوالونه که کانکريټي وي يادخښتووي چه په سيخانوسره تقويه شوی وي اوکه نه وي،دپريکنده قواووددېوال په حيث کارکوي.

دپريکنده قواوودېوال(shear wall) بايددبنسټ نه دودانۍ ترسره پورې په نظرکې ونيول شي، اوياهم په لږارتفاع سره دودانۍدضرورت په اندازه چه دډيزاين له لارې لاسته راځي.

**ب) بکس ډوله جوړښت يا شکل (Box type construction):**
فابريکه يي ديوالونه،خښتي ديوالونه، کانکريټي ديوالونه ياسيخداره کانکريټي ديوالونه چه دتعميردواړومحورونوپه امتدادوی،په دې جوړښت کې شامل دي. دغه ديوالونه دعمودي بارونوپه اوچتولوکي مرسته کوي اوهمداشان دافقي بارونوپه مقابل کې چه له هرې خواپرې واردشي دپريکنده قواوودېوال په حيث عمل کوي.
دفابريکه يي ديوالونوپه صورت کې بايدډيره پاملرنه وشي ترڅوديوالونه يودبل سره په مناسب شکل وتړل شي ترڅودپريکنده قواووپه مقابل کې مطمين وي.

## په ځانګړې بڼه آبادونه (Special Construction Features) :

۱. د څنګ په څنګ ودانيو بيلوالی

څنګ په څنګ ودانۍ چه په مجموعي لوړوالي(total height)،دهر پوړلوړوالی( story height) اوهم د خوځيدنې د قوې(dynamic) په خصوصيت کې سره توپيرولري پکارده چه د يوې خاليګا په واسطه سره بيلې شي تر څو د زلزلې په وخت کې يو دبل دټکرکيدلو له صدمې څخه خوندي پاته شي. دخاليګا ياد درز کمترينه فاصله په لاندې جدول کې ښودل شويده.

جدول ۱-۴ **د څنګ په څنګ ودانيو د خاليګا(درز) پلنوالی**

| شميره | د ودانۍ ډول | د خاليګا پلنوالی په ملي متر | |
|---|---|---|---|
| | | د زلزلې دډيزاين ضريب چه له ۰،۰۸ څخه کم وي | د زلزلې دډيزاين ضريب چه له ۰،۰۸ څخه زيات وي |
| ۱ | بکسي سيستم يا فريم لرونکی سيستم چه شيَير وال ولري<br>Box system or frames with shear | ۷،۵ | ۱۵،۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | | | |
|---|---|---|---|
| | | wall | |
| ۲۰،۰ | ۱۰،۰ | دمومنټ مخنیونکی سیخداره کانکریتي فریم<br>Moment resistance RCC. Frame | ۲ |
| ۳۰،۰ | ۱۵،۰ | دمومنټ مخنیونکی اوسپنیز فریم<br>Moment resistance Steel Frame | ۳ |

**نوټ:** کمترینه خالیګا کیدای شي چه ۲۵ ملي متره وي.

## ۲. بیلواله یا پره داره سیکشن
## Separation or Crumple Section

دفریم واله ودانۍ ټولي برخي باید د خالیګاه دواړو خواؤته یوبل ته ورته والی ولري ، بعضي وخت نه شي کیدای چه دا ورته والی وجود ولري، که چیرته ودانی دT,L اویاداسي ورته شکلونه ولري دزلزلې په وخت کې دکانتیلیورپه شکل عمل کوي چه د ودانۍ وزن اونوراړونده وزنونه اوچتوي. پکارده چه ودانۍدکانتي لیورله حالت نه ووځي،ددې لپاره مناسبه طریقه داده چه په منځ کې یې خالیګاه په نظرکې ونیول شي.
له دې کبله په لاندي شکلو کې د خالیګاؤ او پره لرونکو مقطعاتو ښودنه شویده:




شکل ۲ـ۴

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ۳-۴

# پنځم څپرکی

## دښوونځیو و دانۍ
## School Buildings

**د ټولګیو ډیزاین:**

د ټولګیو د اوږدوالي او پلنوالي تناسب باید۲:۳ یا ۳:۴ وي، ددرس ورکولو لپاره مربع شکله ساحه غوره والي لري. په لمړنیو ښو ونځیو کې د۰،۹۳ څخه تر ۱،۴متره مربع اوپه لوړو ښوونځیو کې ۱،۸ څخه تر ۲،۳ متر مربع پورې ساحه د یوه زدکونکي لپاره په نظر کې ونیول شي. د ټولګي لوړوالی کم تر کمه ۳،۶ متره او که چیرته د ټولګي د غولي ساحه ۵۵ متره مربع څخه زیاتیږي د ټولګي لوړ والی ۴،۲ متره پورې په نظر کې نیول اړین دي.

د ښو ونځي ودانۍ داسي باید آ باده شي چه کوټو ته یي رڼا په ښه شکل ورسیږي معمولاً د جنوب له طرفه(په افغانستان کې) او برنده هغې طرف ته جوړه نشي. د اصلي بلاك سره د ټولګیو زیاتول په قایمه زاویه سره بایدآباده نه ښي. دوه بلاکونه یو له بل څخه باید د رڼا له کبله د یوي فاصلې چه د لوړ بلاك له لوړوالي څخه کمه نه وي لرې آ باد شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د رڼايي له کبله د شيشو ساحه بايد د ټو لګي د غو لې د ۶/۱ ساحې سره برابره وي او ماء ثره رڼا له کړکيو ځخه د جنوب له ديوال ځخه داخليداي شي. کړکۍ بايد په مناسبو فاصلو سره کيښودل شي تر ځو په مساوي ډول رڼا ټولګي ته ورسيږي. په جنوبي ديوال کې د وروستي کړکۍ ژۍ د زدکونکو د ورستي کتارد شا دديوال ځخه له ۰،۹ مترو ځخه زياته فاصله ونه لري. دداسي کړکۍ اېښودلو ته بايد اجازه ورنه کړل شي چه د شا ګردانو د مخي له خوا رڼا ټولګي ته داخله شي، چيرته چه زدکونکي له ميزو او چوکيو ځخه ګته اخلي د کړکيو لاندنۍ برخه د ټو لګي له غولي ځخه ۱،۰۶ تر ۱،۲۲ مترو ځخه جګې نصب شي .
او که زده کونکي په مځکه کښيني نو د کړکۍ لاندني برخه د ۰،۷۵ ځخه تر ۰،۹۰ متره د ټولګي د غولي ځخه لوړې په نظر کې ونيول شي. په ياد مووي کله چه د ټو لګي پلنوالی د ۷،۳ مترو ځخه زياتيږي دابه ګرانه وي چه رڼا د ټولګي دکړکيو دديوال ځخه د ټولګي ټو لو بر خو ته په مئوثره توګه ورسيږي
هواکش بايددچت نه ۱۵ تر۲۳ سانتي مترو پورې ټيټ نصب شي،چه دهرزده کوونکي لپاره ۳۲۵سانتي متره مربع خاليګاه(سوړه) ولري او پله لرونکي کړکي پکي کښينول شي.
توره تخته د رڼا له کبله په هغه ديوال چه کړکۍ پکښي نصبي وي نصب نه شي، او هيڅ يوه چوکۍ د تورې تختي ځخه د ۹ مترو نه لرې نه وي،اودتختي اندازه ۱،۸۲په ۲،۴۳ متروکې وي. فاصله د ميزونو د قطارونو تر منځ ۷۵ سانتي متره او کمترينه يې ۴۵ سانتيمتره وي. فاصله د ميزونو د قطار او ديوالونو تر منځ کم تر کمه ۳۰ سانتي متره وي.

## توره تخته د ښوونځيو لپاره

**لوړوالی:**

| | | |
|---|---|---|
| دلمړني ټولګي لپاره برخې پورې | ۵۳ سانتي متره | د غولي ځخه د تختې تر ټيټې |
| دمنځني ټولګي لپاره برخې پورې | ۶۴ سانتي متره | د غولي ځخه د تختې تر ټيټې |
| دلوړو ټولګيولپاره برخي پورې | ۷۶ سانتي متره | د غولي ځخه د تختې تر ټيټې |

د تختې لوړوالی ۱،۰۶ متره، ۱،۲۲ متره، ۱،۳۷ متره، ۱،۲۲ متره يې غوره دي.

**مشخصات:** د تورې تختي د جوړولو لپاره لاندنی طبقه ۱۲ ملي متره د سمنتو پلسترچه ۱ سمنټ او ۲ ريګ او يوه برخه د ذغالو پوډرسره ګډ او ديوال پلستر شي. دوهمه طبقه ۱ سمنټ، ۱ د ذ غالو پوډر د ۳ ملي متره په پنډوالي سره دديوال پلستر کول پکاردي .
**د تورې تختي رنګول:** ۲/۱ کيلو ګرامه ورنس د ۵ ليتره د ميتايل الکول مخلوط او ۲/۱ کيلو ګرامه توره آجکاري، ۷۵ ګرامه ښه ميده شوې د سنګ سنبا ده اوړه شوی پوډراو ۴/۱ ګرامه آبي رنګه (د لاجوردي ډبرين پوډر). دا ټو ل ښه سره ګډيږي بيا په يوه سرپوش داره بوتل کې واچول شي اود استعمال په وخت کې ښه وښورول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**لیلیه**
د یوه اطاق په صورت کې د غولي کمترین مساحت باید ۹ متره مربع وي. د۳ یا ۴نفرو زده کونکو د اوسیدلو لپاره د اطاق د غولي اندازه باید دهرنفر لپاره ۶ متره مربع وي، او د ۵ یا زیاتوزد کوونکولپاره د یوه نفر لپاره کم تر کمه ۵،۶ متره مربع په نظر کې ونیول شي.

# شپږم څپرکی

## دپل د څنګیزو ستنو ډیزاین
## DESIGN OF ABUTMENTS

### د څنګیز ستنو اندازه: (Size of Abutment)

که چیرته د پلچکو وایې تر۳ متروپورې وي د څنګیز ستنو د سر پلنوالی ۷۲ سانتي متره او که له ۳ مترو څخه دو ایې اږد والی زیات وي ۸۰ سانتي متره نیول کیږي. چه ۳۰ څخه تر ۴۰ سانتي متره د پل د تختو د اتکا لپاره او متبا قي د ډکون د دیوال لپاره نیول کیږي.

دڅنګیز ستنو پلنوالی د مځکې د پا سه د لاندني جدول سره سم جوړیدای شي.
جدول ۱-۶

| د څنګیز ستنو لوړوالی د مځکې د پاسه تر با لشتکه پورې | د څنګیز ستنو پلنوالی د خاورې د اعظمي فشار برداشت ۲۲ ټنه په یوه متر مربع با ندې | د څنګیز ستنو پلنوالی د خاورې د اعظمي فشار برداشت ۴۴ ټنه په یوه متر مربع با ندې |
|---|---|---|
| ۱،۵ متر | ۱۵۸ ساني متره | ۱۲۸ سانتي متره |
| ۱،۸ متر | ۱۷۳ سانتي متره | ۱۴۳ سانتي متره |
| ۲،۱ متر | ۱۹۰ سانتي متره | ۱۵۲ سانتي متره |
| ۲،۴ متر | ۲۰۷ سانتي متره | ۱۶۰ سانتي متره |
| ۲،۷ متر | ۲۳۳ سانتي متره | ۱۷۰ سانتي متره |
| ۳،۰ متر | ۲۶۵ سانتي متره | ۱۸۵ سانتي متره |
| ۳،۶ متر | ۳۳۰ سانتي متره | ۲۱۸ سانتي متره |

پورتني ابعاد دپلچکو د ۳ متره وایو لپاره دی.اوکه چیرته دپلچکوابعادتر۳متروزیاتیږي نودIRCکوډپه اساس په ابعادوکې باید۸۰سانتي متره زیاتوالی راسي.

د څنګیز ستنو مځکنی سطحه عموده یا ۱:۱۲ تناسب سره مایله جوړه شي، د څنګیز ستنو یا منځنیو ستنو د لوړوالي تناسب د قاعدې د پلنوالي په پرتله باید له ۶ څخه زیات نشي. کمترین ژوروالی د مځکې له سطحې څخه کښته په معمولي خاورو کې ۱،۸۳ متره په نظر کې نیول اړین دي ( ۱،۳۸متره دسنګ کاری او خشتکاری لپاره او ۴۵ سانتي متره د کانکریټ لپاره).
دا د آي آر سي دد رندو وزنو لپاره چیرته چه عبوري تخته نه وي نصب شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا ډاډمنه او بې خطره ده کله چه د بنسټ ژوروالی د ۳۰ سانتي مترو په اندازه نور زیاتوالی ومومي د خاورې د زغمښت مجازي فشار ۲/۱ ټنه په هر متر مربع کې زیاتیدل اړین دي.

**د پلچکو د څنګيز ستنو اندازه** جدول ۲-۶

| واېه | ۱ متر څخه تر ۴ متره پورې | | | | | | ۵ متره څخه تر ۶ متره پورې | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لوړوالی Ht | ۱،۵ | ۲،۰ | ۲،۵۰ | ۳،۰۰ | ۳،۵۰ | ۴،۰۰ | ۲،۰۰ | ۲،۵۰ | ۳،۰۰ | ۳،۵۰ | ۴،۰۰ |
| D | ۰،۱۵ | ۰،۲۰ | ۰،۲۵ | ۰،۳۰ | ۰،۳۵ | ۰،۴۰ | ۰،۲۰ | ۰،۲۵ | ۰،۳۰ | ۰،۳۵ | ۰،۴۰ |
| J | ۰،۵۰ | ۰،۷۰ | ۰،۹۵ | ۱،۱۰ | ۱،۲۵ | ۱،۴۰ | ۰،۶۰ | ۰،۸۵ | ۱،۰۰ | ۱،۲۰ | ۱،۴۰ |
| L | ۰،۳۰ | ۰،۳۰ | ۰،۳۰ | ۰,۳۰ | ۰،۳۰ | ۰،۳۰ | ۰،۴۰ | ۰،۴۰ | ۰،۴۰ | ۰،۴۰ | ۰،۴۰ |
| R | - | - | ۰،۱۰ | ۰،۲۰ | ۰،۳۰ | ۰،۵۰ | - | ۰،۱۰ | ۰،۲۰ | ۰،۴۰ | ۰,۶۰ |
| B | ۱،۲۵ | ۱،۵۰ | ۱،۸۰ | ۲،۰۰ | ۲،۲۰ | ۲،۴۰ | ۱،۵۰ | ۱،۸۰ | ۲،۰۰ | ۲،۲۵ | ۲،۵۰ |
| C | ۲،۴۵ | ۲،۷۰ | ۳،۲۰ | ۳،۶۰ | ۴،۰۰ | ۴،۶۰ | ۲،۷۰ | ۳،۲۰ | ۳،۶۰ | ۴،۲۵ | ۴،۹۰ |




شکل ۶-۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

Based on IRC Specification

All dimensions in Meters

**د پلچکو د خلطنکي دیوالونو اندازې جدول ۳-۶**

| واایه | تر ۲ مترو پورې | | | | | | تر ۳ مترو پورې | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لوړوالی Ht | ۱،۵۰ | ۲،۰۰ | ۲،۵۰ | ۳،۰۰ | ۳،۵۰ | ۴،۰۰ | ۱،۵۰ | ۲،۰۰ | ۲،۵۰ | ۳،۰۰ | ۳،۵۰ | ۴،۰۰ |
| D | ۰،۱۸ | ۰،۲۳ | ۰،۲۸ | ۰،۳۳ | ۰،۳۶ | ۰،۴۳ | ۰،۱۹ | ۰،۲۴ | ۰،۲۹ | ۰،۳۴ | ۰،۳۹ | ۰،۴۴ |
| J | ۰،۴۵ | ۰،۵۷ | ۰،۷۰ | ۰،۸۲ | ۰،۹۵ | ۱،۰۷ | ۰،۴۶ | ۰،۵۹ | ۰،۷۱ | ۰،۸۴ | ۰،۹۶ | ۱،۰۹ |
| B | ۱،۱۳ | ۱،۳۰ | ۱،۴۸ | ۱،۶۵ | ۱،۸۳ | ۲،۰۰ | ۱،۱۵ | ۱،۳۳ | ۱،۵۰ | ۱،۶۸ | ۱،۸۵ | ۲،۰۳ |
| C | ۱،۹۳ | ۲،۱۰ | ۲،۲۸ | ۲،۴۵ | ۲،۶۳ | ۲،۸۰ | ۱،۹۵ | ۲،۱۳ | ۲،۳۰ | ۲،۴۸ | ۲،۶۵ | ۲,۸۳ |

| واایه | ۴ متره | | | | | | ۶ متره | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| لوړوالی Ht | ۱،۵۰ | ۲،۰۰ | ۲،۵۰ | ۳،۰۰ | ۳،۵۰ | ۴،۰۰ | ۲،۰۰ | ۲،۵۰ | ۳،۰۰ | ۳،۵۰ | ۴،۰۰ |
| D | ۰،۱۹ | ۰،۲۴ | ۰،۲۹ | ۰،۳۴ | ۰،۳۹ | ۰،۴۴ | ۰،۲۵ | ۰،۳۰ | ۰،۳۵ | ۰،۴۰ | ۰،۴۵ |
| J | ۰،۴۸ | ۰،۶۰ | ۰،۷۳ | ۰،۸۵ | ۰،۹۸ | ۱،۱۰ | ۰،۶۳ | ۰،۷۵ | ۰،۸۸ | ۱،۰۰ | ۱،۱۳ |
| B | ۱،۱۷ | ۱،۳۴ | ۱،۵۲ | ۱،۶۹ | ۱،۸۷ | ۲،۰۴ | ۱،۳۸ | ۱،۵۶ | ۱،۷۳ | ۱،۹۰ | ۲،۰۸ |
| C | ۱،۹۷ | ۲،۱۴ | ۲،۳۲ | ۲،۴۹ | ۲،۶۷ | ۲،۸۴ | ۲،۱۸ | ۲،۳۵ | ۲،۵۳ | ۲،۷۰ | ۲،۸۸ |

پورتنی جدول ۴-۶ د IRC په ۱۳ خاصه ګڼه باندې تکیه کوي .

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ۲ـ۶

**یا دونه:**

۱. کله چه د خاورې د زغمښت مجازي فشار کم تر کمه ۱۶،۵ ټنه په یوه متر مربع کې وي د ځنګیز او
دخلطنکوستنومقطعات چه پورته ښودل شوي دي په نظر کې و نیول شي. دخاورې د ټیټ یا لوړ
مجازي زغمښتي فشارپه صورت کې توټې (مقطعات) باید په مناسب ډول برابر شي.

۲. مختلف ابعاد چیرته چه اړین وي په مناسب ډول سره برابریداي شي تر څو د ځښتو له اندازې سره
سمون وخوري.

۳. دپورتني مقطعاتو(Sections)څخه استفاده کول هغه وخت شونی دی چه کله دپلچکو په دیزاین کې
د آی، آر، سي R۷۰ بار(IRC Class 70 R) یا دوه لینه سړك کې د A بار( Class A Loading) په

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظر کې ونيول شي بې له دې چه عبوري تخته نصب شي.

۴. پورتني مقطعات (Sections)کيدای شي د خښتو يا د ډبرو څخه جوړ شي او د سمنټو او شګو
د ۱:۳ تناسب مخلوط پکي و کارول شي. د بنسټ کانکريټ کيدا ی شي د ۱:۳:۶ تناسب سره ګډ شي.

## د پل د ستنو، څنګيز او خلطنکي ديوالونو د سر پلنوالی
## Width at top of piers, Abutments and Wing Walls
### د آي، آر،سي ۴۰-۱۹۷۰ سره سم
### According to IRC: 40-1970

کمترين پلنوالی د ستنواو اړخکي ديوالونو د بالشتك د لاندې د تخته يي يا ګاډري پلونو لپاره د لاندني جدول سره سم په نظر کې ونيول شي.
جدول ۵-۶

| وايه په متر سره | ۳ متره | ۶ متره | ۱۲ متره | ۲۴ متره | ۴۰ متره | ۶۰ متره |
|---|---|---|---|---|---|---|
| د ستني د سر پلنواله چيرته چه ساده وايه کارول شوی وي، په سانتي متر سره | ۵۰ | ۱۰۰ | ۱۲۰ | ۱۶۰ | ۲۰۰ | ۲۲۰ |
| د اړخکي ديوالو د سر پلنوالی چيرته چه دوامداره وايه کارول کيږي، په سانتي متر سره | ۴۰ | ۷۵ | ۱۰۰ | ۱۳۰ | ۱۷۰ | ۱۹۰ |

د خلطنکي ديوالو د سر پلنواله بنائي د ۵۰ سا نتي مترو څخه کم نه شي.

## خلطنکي د يوالونه
## WING WALLS AND RETURN WALLS

خلطنکي ديوال د پل ياد پلچکو د څنګيز ديوالو غځيدنه دبيا لې يا خوړ د پراخيدو لورته ويل کيږي ترڅو له يوي خوا د ديوال شاه ته د ډکون او مځکي ساتنه وکړاي شي، او له بلي خوا اوبه د پل يا پلچکو سوړو ته څنګه چه لازمي وي تنظيم کړي. د خلطنکو دسر برخه (The Top of the Wing Wall) د سړك د اوړو د ډکون سره سم او يو برابره اوږدوالی مومي اود ا وړو د ختم سره سم د شا طرف ته د تکيه شوي مځکې اود ډکون د زاويي سره سم کښته خواته ميلان پيدا کوي، خلطنك د مځکې له سطحې يا د اوبو له سطحې څخه کم له کمه ۰،۶۰ څخه تر ۱،۲ مترو پورې لوړوالی ولري. تر څو پلچك د اوبو له اړخيز تخريب څخه وساتي، البته تر کومه ځا يه پورې چه اړين وي خلطنکو ته اوږدوالی ورکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چه د ډکون لوړوالی د ۲،۴ مترو څخه لږ وي د خلطنکو د وروستي ټيټي څوکې لوړوالی د ډکون د نيمايي لوړوالي سره برابره وي عادتاً له ۶۰ سانتي مترو څخه کمه نه وي.

کله چه د پلچکو وايه ۳ متره يا کمه وي د پلچك د خلطنکو مخکنی سطحه معمولاًعمود او د شا طرف ۱:۴ تناسب سره ما يل او چتول پکار دي. او په هغه صورت کې چه د پلچك يا پل وايه د ۴،۵ مترو څخه تر ۹ مترو پوري وي د خلطنکو د مخي سطحه ۱:۱۲ په تناسب او د شا طرف يي ۱:۶ په تناسب سره مايل يا د پتو(Steps) په شکل جوړ ول پکار دي، د ديوال د سر پلنوالی کم تر کمه ۴۶ سانتي متره وي. کله چه د خلطنکو لوړوالی بيرون طرف ته کميږي پندوالی يي هم په برا بر ډول کم شي.




شکل ۳-۶

## دسړك انتقالي تخته
## Roadway Approach Slab

سيخ لرونکې کانکريټي تخته چه د پل دواړو خواؤته د سړك د پلنوالې په اندازه د اړخکي ديوالو د پاسه لګول کيږي د تختي پلنوالی د ۳،۵ مترو څخه کم نه وي،ا ړتيا نشته چه د اړخکي ديوالو په ديزاين کې اضافي ژوندي بار په نظر کې ونيول شي. دا تختې ژوندي بارونه په پراخه ساحه باندې ويشي او د وزن اثرات په اړخکي ديوالو باندي کموي. مخکې له دې چه تختې کښينول شي د تختو د لاندې خاوره ښه تخته او ټپك شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

انتقالي تخته کيداي شي ۳،۵ متره پلنوالی، او ۳۰ سانتي متره پنډوالی ولري ۲۰ ملي متره اصلي سيخان چه ۱۲ سانتي متره مرکز تر مرکزه فاصله ولري او ۱۶ ملي متره عرضاني سيخان چه ۲۸ سانتي متره مرکز تر مرکزه فاصله ولري په نظر کي ونيول شي. د سپکو بارو کليوالي سړکو کي د تختي پلنوالی ۱،۵ متره په ۲۱ سانتي متره پنډ واله سره جوړه شي. اصلي سيخان ۱۲ ملي متره چه ۲۱ سانتي متره مرکز تر مر کزفا صله ولري او همدا رنګه ۱۲ ملي متري عرضاني سيخان چه ۳۰ سانتي متره يو د بل له مر کزه فاصله ولري اچول کيږي. د يا د ولو وړده چه د اصلي سيخانو څخه له هر څلو رو سيخانووروسته يو سيخ پورته خواته قاتول ضرور دي. اصلي سيخان د سړك د اږد واله سره موازي اچول کيږي.

## کاږه پلونه
## Skew Bridges

هغه پلونه چه د هغي منځنی کرښه د کانال اويا داسي نورو ژورو د منځني کرښي سره عموده نه وي هغي ته سکيو( مايل ) پلونه ويل کيږي. د سړك د منځني کرښي ميلان د کانال او يا نورو ژورو د منځني کرښي سره د ميلان د زاويې په نامه سره يا ديږي.پخوا ځنګه چه د ګاډو تيزوالی کم وو مايل پلونه يا پلچك د ژورو د مسير سره په قايمه زاويه جوړيدل د پل متصل يوه منظمه ګولايي په نظر کې نيول کيده. نن سبا څرنګه چه ګاډې ډيرګړندي او زيات سرعت لرونکي دي له دي کبله چيرته چه د سړك منځني کرښه د کانال يانورو ژورو له منځني کرښي سره عموده نه وي د پلونو اوپلچکو مربع شکل جوړيدل ډير خطرناك دي، پکارده چه د پل او اوبو طبعي مسير ته تغير ورنکړل شي او د منظم هندسي شکله معين(لوزي) په شکل سره جوړشي چه په دي ډول به له يوې خوا د ترافيکو خطره له منځه لاړه شي او دبلي خوا به د او بو د تخريب قوه چه په اړخکي ديوالو يا خلطنکي ديوالو باندي واردوي کمه شي يعني هڅه وشي چه د اوبو جريان له اړخکي ديوالواو منځني ستنو سره موازي حرکت ولري.
د مايلو پلو نو د قواؤ تحليلول اوډپل د يزاين کول نظر مربع شکلو پلونو او پلچکو ته ډير پيچلي او مغلق دی. د ميلان د زاويي د لويوالي په صورت کي د مايلو پلونو په پوشش باندې د بارونو فشار نظر مستقيم پوشش ته توپير کوي. هغه بارونه چه د پل په پوشش باندي عمل کوي د پل ستنو ته د مختلفو لارو د هغي د محکميت په تناسب سره انتقاليږي، له دې امله دبارونو( وزنو) زيا ته برخه غواړي چه د پل ستنو يا اړخکي ديوالونو مخکني سطحې ته په عمودي ډول انتقال شي. په نتيجه کي داعظمي فشار سطحه د سړك د منځني کرښې سره موازي نه شي راتلای، د پل پوشش هڅه کوي چه تاو شي له دې کبله د منفرجه زاويي طرف ته عکس العملونه نظر هغه بل طرف ته چه حاده زاويه لري خورا زيات وي، چه د زيا توب حدوديي د ۰ څخه تر ۵۰ سلنه چيرته چه د ميلان زاويه له ۰ څخه تر ۲۰ درجو پوري وي،او د ۵۰ څخه تر ۹۰ سلنه چيرته چه د ميلان زاويه له ۲۰ درجو څخه تر ۵۰ درجو پوري وي.
عملي نقشه د مايلوپلونو د پوشش په لاندني شکل کې ښودل شويده. د مايلو پلونود پوشش لاندني سيخان د ستنو اواړخکي ديوالودمخکني سطحي سره په عمودي او موازي شکل اچول کيږي. په دې ترتيب اساسي سيخان د پوشش آزاده څنډه په يوه زاويه سره داسي قطع کوي چه د انحنايي مومنټ په اوچتولو کي څه اثرنشي لرلی، له دې امله په آزاده څنډه کي د وزن د اوچتولو لپاره څه نو ر سيخان د آزادې څنډې سره نژدې او موازي اچول پکار دي چه د اساسي سيخانو لپاره کوم چه آزاده څنډه کې قطع کوي يوه مناسبه تکيه ګاه شي.

پورتني سيخان خاصتاً د منفرجه زاويې په کنج کې اچول اړين دي چه دپوشش د اوږده وتر سره موازي غځول کيږي، عرضاني سيخان د ستنو او اړخکي ديوالو سره اچول کيږي. د اوږد واله پورتني سيخان د ۱۰ ملي متره په قطر د ۳۰ سانتي متره د مرکز له مرکز ځخه دفاصلې په لريوالي سره د آزادې ځنډې سره موازي دپوشش په ټول پلنوالي کې اچول کيږي.

**د مايلوپلچکود پوشش د سيخبندي ځانګړی جدول ۶-۶**

| وايه په متر | مايله زاويه په درجه | د پوشش پنډوالی | لاندني سيخبندي | | | | | | پورتني سيخبندي | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | | اصلي سيخان | | عرضاني سيخان | | د ځنډې سيخان په هره ځنډه کې | | عرضاني سيخان | | د کنج سخان | |
| ۵ | ۱۵ | ۴۶۵ | ø۲۰ | ۱۳۰ | ø۱۰ | ۹۰ | ø۲۰ | ۱۴۰ | ø۱۰ | ۳۰۰ | ø۱۶ | ۳۰۰ |
| | ۳۰ | ۴۶۵ | ø۲۰ | ۱۳۰ | ø۱۰ | ۹۰ | ø۲۰ | ۱۳۰ | ø۱۰ | ۳۰۰ | ø۱۶ | ۳۰۰ |
| | ۴۵ | ۴۶۵ | ø۲۰ | ۱۳۰ | ø۱۰ | ۹۰ | ø۲۰ | ۱۲۰ | ø۱۰ | ۲۰۰ | ø۱۶ | ۱۹۰ |
| | ۶۰ | ۴۶۵ | ø۲۰ | ۱۲۰ | ø۱۰ | ۱۰۰ | ø۲۰ | ۱۲۰ | ø۱۰ | ۱۸۰ | ø۱۶ | ۱۱۰ |
| ۶ | ۱۵ | ۵۴۰ | ø۲۰ | ۱۱۵ | ø۱۰ | ۱۰۰ | ø۲۰ | ۱۱۰ | ø۱۰ | ۳۰۰ | ø۱۶ | ۳۰۰ |
| | ۳۰ | ۵۴۰ | ø۲۰ | ۱۱۵ | ø۱۰ | ۱۰۰ | ø۲۰ | ۱۱۰ | ø۱۰ | ۲۶۰ | ø۱۶ | ۳۰۰ |
| | ۴۵ | ۵۴۰ | ø۲۰ | ۱۱۵ | ø۱۰ | ۱۰۰ | ø۲۰ | ۱۱۰ | ø۱۰ | ۲۰۰ | ø۱۶ | ۱۷۰ |
| | ۶۰ | ۵۴۰ | ø۲۰ | ۹۵ | ø۱۰ | ۱۶۰ | ø۲۰ | ۱۱۰ | ø۱۰ | ۱۶۰ | ø۱۶ | ۹۰ |
| ۸ | ۱۵ | ۷۰۰ | ø۲۵ | ۱۵۰ | ø۱۰ | ۹۰ | ø۲۵ | ۱۵۰ | ø۱۰ | ۲۶۰ | ø۲۰ | ۳۰۰ |
| | ۳۰ | ۷۰۰ | ø۲۵ | ۱۵۰ | ø۱۰ | ۱۱۰ | ø۲۵ | ۱۴۰ | ø۱۰ | ۲۳۰ | ø۲۰ | ۳۰۰ |
| | ۴۵ | ۷۰۰ | ø۲۵ | ۱۵۰ | ø۱۰ | ۱۵۰ | ø۲۵ | ۱۳۰ | ø۱۰ | ۱۶۰ | ø۲۰ | ۱۸۰ |
| | ۶۰ | ۷۰۰ | ø۲۵ | ۹۵ | ø۱۰ | ۱۸۰ | ø۲۵ | ۱۲۰ | ø۱۰ | ۹۰ | ø۲۰ | ۹۰ |



(c) ketabton.com: The Digital Library

(c) ketabton.com: The Digital Library




شکل ۴-۶

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دآزادواتکاٌلرونکو پلچکو د سیخبندۍ مفصل جدول چه کانکریټي سلب یي په ۷۵ملي متروقیرسره پوشل شوی وی. جدول ۷-۶

| د ټو لو کانکریټو مقدار دیوی وایي لپاره په ټن سره Total quantity of concrete per span Cu. Meters | د سیخ مجموعی مقدار د یوې وایي لپاره په ټن سره Total quantity of steel per span Tones | Reinforcement steel سیخ | | | | | | | | د پوشښي تختو مجموعی پندوالی په ملی متر سره Overall slab thickness mm | د پوشښي تختومجموعی اوږدوالی Overall Slab length (M) | د اتکا پلنوالیډ تختوپه دواړوځندوکي په ملي متر Bearing length at each end | دوایي اږدوالیپهمتر Clear Span (M) |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | Transverse bars متقاطع سیخونه | | | | Longitudinal bars د اورد واله سیخان | | | | | | | |
| | | پاسني سیخان | | لاندني سیخان | | پاسني سیخان | | لاندني سیخان | | | | | |
| | | فاصله په ملي متر | قطر په ملي متر | فاصله په ملي متر | قطرپه ملي متر | فاصله په ملي متر | قطرپه ملي متر | فاصله په ملي متر | قطر په ملي متر | | | | |
| ۳،۶۵-۲،۰۸۸ | ۰،۵۸۶- ۰،۶۶۲ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۵۰-۱۲۵ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۱۵-۱۵۰ | ۱۶ | ۱۹۰-۱۵۰ | ۱،۶ | ۳۰۰ | ۱،۰ |
| ۵،۵۵-۴،۵۴ | ۰،۸۴۸- ۱،۰۵۴ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۵۰-۱۰۰ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۹۰-۱۰۵ | ۱۶ | ۲۲۰-۱۸۰ | ۲،۱ | ۳۰۰ | ۱،۵ |
| ۷،۴۸-۶،۷۱ | ۱،۰۱۱۷-۱،۲۶۸ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۲۵-۱۰۰ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۰۰-۸۰ | ۱۶ | ۲۶۰-۲۱۵ | ۲،۶ | ۳۰۰ | ۲،۰ |
| ۱۰،۴۰-۹،۳۰ | ۱،۵۰۰-۱،۶۳۴ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۲۵-۱۵۰ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۹۰-۷۵ | ۱۶ | ۲۷۰-۲۴۵ | ۳،۱ | ۳۰۰ | ۲،۵ |
| ۱۳،۲۰- ۱۱،۸۸ | ۱،۸۶۱- ۲،۰۰۰ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۲۵-۱۵۰ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۷۵-۷۰ | ۱۶ | ۳۰۵-۲۷۵ | ۳،۶ | ۳۰۰ | ۳،۰ |
| ۱۶،۸۰- ۱۵،۴۷ | ۲،۱۸۶- ۲،۲۷۸ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۲۵-۱۵۰ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۶۵-۶۰ | ۱۶ | ۳۴۰-۳۱۵ | ۴،۱ | ۳۰۰ | ۳،۵ |
| ۲۰،۴۱- ۱۹،۰۵ | ۲،۵۰۶- ۲،۵۰۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۲۵-۱۵۰ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۰۰-۹۰ | ۲۰ | ۳۷۰-۳۴۵ | ۴،۶ | ۳۰۰ | ۴،۰ |
| ۲۹،۲۶-۲۷،۵۰ | ۳،۴۰۲-۳،۷۰۳ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۲۵-۱۵۰ | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۹۰-۷۵ | ۲۰ | ۴۲۰-۳۹۵ | ۵،۸ | ۴۰۰ | ۵،۰ |
| ۳۸،۸۰-۳۶،۳۰ * | ۴،۵۱۳-۴،۵۸۱ * | ۳۰۰ | ۱۰ | ۱۲۵-۱۵۰ * | ۱۶ | ۳۰۰ | ۱۰ | ۷۵-۶۸ * | ۲۰ | ۴۷۵-۴۴۵ * | ۶،۸ | ۴۰۰ | ۶،۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

* چیرته چه ۲۰۰مارک (۱:۱ ۱\۳:۲ ) کنټرو ل شوی کانکریټ استعمال شوی وي. د
( آي،آر،سي ) دلار ښود سره سم د کوچینیو پلونو او پلچکو لپاره.

**کانکریټي سلب لرونکو پلچکو په هکله یادونې:**

۱. دډ یزاین بارونه: IRC کلاس A (دوه لینه سړك) یا کلا س ۷۰ R (یو لینه سړك).

۲. د سړك پلنوالی ۲،۱۱ متره، ۴۰۰ ملي متره دپلچکو ددیوالګیو (Parapet wall) پلنوالی چه
د پوششي تختویاسلب د پاسه آبا دیږي ، په دي ډول د پوشش یا سلب ټول پلنوالی ۱۲ متره کیږي، د
د یوالګیو لوړ والئ د پو شش د تختویاسلب د پاسه ۵۰۰ ملي متره دی.

۳. د ۱:۲:۴ په تناسب سره عادی سمنټي کانکریټ استعمالیداي شي. په پورتني جدول کي هغه ارقام چه
د (*)په علامي سره په نښه شویدي هلته ۲۰۰ مارك(۱:۱،۵: ۳) په تناسب سره کنټرول شوی کانکریټ
استعما ل شي.( لاندني ارقام په جدول کې)

(الف) د پو ششي تختومجموعي پندوالئ
(ب) د سیخا نو فاصله
(ج) د سیخ مجموعی مقدار
(د) د ټو لو کانکریټو مقدار ،کوم چه په پورتني جدو ل کې ښو دل شو ي وکارول شي.

۴. ګریډ I ( Grade I Mild tested Steel) ټیسټ شوي سیخان وکارول شي.

۵. د لاندني اوږد واله سیخانو څخه دهریوسیخ نه وروسته یوسیخ په ۴۵ درجي زاویي سره د اتکا
دبیروني څوکې څخه د وایې په ۰،۱۵ فاصله کي با ید پورته خواته قات شي، لکه څنګه چه په لمړي
شکل کې ښودل شویدي . ( بعضي انجینران په دي عقیده دي چیرته وایه ۳ یا له ۳ مترو څخه کمه وي،
وروسته له هرو څلورو سیخانوڅخه یو سیخ او که وایه له ۳ مترو څخه زیاته وي پس له هرو
۲ سیخانوڅخه یو سیخ پورته خوا ته کوږ شي). ټو ل سیخان باید چنګك شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶.که چیرته دسلب یاپوششي تختود بشپړ اوږدوالي په اندازه سیخ موجود نه وي نو کیداشي چه سیخان
یو له بله سره په داسي شکل ونښلول شي (Joint or over lap ) چه۴۵ واره د سیخا نو د قطرپه
اندازه یو له بله څخه تیر شي، د وایې په منځني برخه کې د سیخانو نښلول (Joint ) دمنلو وړنه دي،
ټول جاینټو نه په ښه ډول، داسې سره ترتیب شي چه په یوه لیکه کي دوه سیخان په متواتر ډول سره
جاینټ نشي، کیداي شي چه په هر دوو سیخانو کې یو سره جاینټ شي.

۷. د سیخانو لپاره کمترین پو ششي پو ټو کي (clear cover) ۲،۵ ملي متره یا د سیخ د قطر په اندازه
کوم چه زیات وي په نظر کې و نیول شي.

۸. هغه مقدار سیخان چه په پورتني جدول کې ښود ل شویدي په هغه کې۵ فیصده ضایعات او یو له بله
سره د تیریدو اندازه هم شامله ده.

۹. Transverse bars متقاطع سیخونه کوم چه په پورتني جدول کې ښودل شویدي کیداي شي د
پلچکو دواړو خواوته یعنی د پو ششي تختویادسلب څنډو ته کم شي (په منځني برخه کي د سیخانو
فا صله نږدې او په څنډو کي زیا ته وي).

۱۰.کله چه د پلچك وایه له ۳ مترو څخه زیاتیږي د پلچك د منځني بر خې شاه کړوپې camber
د وایي ۱ \۲۴۰ حصه لوړپه نظر کي نیول پکار دي.

۱۱.پلچك چه تر ۱۰ مترو پورې وایه ولري دا اقتصادي ده چه دټي بیم په عوض د ساده سلب په شکل
دیزاین شي.

۱۲. ۷۵ ملي متره پنډ قیر د پوششي تختي یاسلب د پاسه په پورتني جدول کې په نظر کې نیول
شوي دي.

۱۳.لکه څنګه چه په پورتني جدول کې ښودل شوي دي د پلچکو د څنګیزو(Abutment) یا ستنو
(Pier ) بالشتك (Cap) چه له سیخدارو کانکریتو (یا د ډبرینو تختو) څخه جوړشوي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي ۱۵۰ ملي متره پنډوالی او ۳۰۰ یا ۴۰۰ ملي متره اوږد والیولري ، دمجموعي حجم ۲ فيصده
سيخ چه په مساوي ډول په پورتني او لاندني برخو کې دواړو خواووته وغځول شي.
قير واله کاغذ
د پلچك د تختي د لاندې او د بالشتك د پا سه اچول پكار دي.

۱۴.د پلچکو د تختو د آخرني څنډې او د اړخکيو(Abutment) تر منځ ۶ملي متره خالیگاه د تختو د
غځيدو (Expansion) له کبله پرېښودل ضروري دي، او دا خاليگا بايد د قيراو ريگ د مخلوط
څخه ډکه شي.

۱۵. پورتنی جدول کیدای شي د عمومي شاهرا ؤ د پلچکو لپاره وکارول شي . درانده با رونه کیداشي
کله کله په پلچکو باندي تير شي، او احتياطي فکتورونه په نظر کي ونيول شي.

# اووم څپرکی

## برآورداواندازه
## ESTIMATING and QUANTITIES

په معمولي تعميراتواوودانيوکې دتوکوقيمت تقريباً ۶۰فيصده اودکارگرانواجوره۴۰فيصده دټول تعميراتکل کيږي.
اونورهم کیدای شي په کوچنيوسلنوباندې وويشل شي.
**مواد:**
خښتي ۲۵٪،سمنټ ۱۳٪،سیخ گول ۱۰٪،تختي ۱۲٪.
**کارگر:**
كيندل ۱٪،معماري۲۵٪،نجاري ۱۲٪ اوحلبي سازي ۲٪.

ديوه پوړيزی ودانی دمختلفوبرخودکار قيمت دټولی ودانی دقيمت لاندي سلني اټکلیداي شی.

| | |
|---|---|
| دبنسټ کيندنه اوکانکريټ اچول | ٪۳ |
| دکرسی خښتکاري | ٪۵ |
| دکرسی نه پورته خښتکاري | ٪۲۵ |
| بام | ٪۲۰ |
| غولې | ٪ ۶ |
| دکړکيو اودروازې نجاري | ٪۱۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

دننه بشپړوالۍ Internal Finishes ٪۶
بیروني بشپړوالۍ External Finishes ٪۳
داوبوبرابرول
٪۴
حفظ الصحوی کارونه Sanitary Work ٪۸
برښنابرابرول
٪۵
دالاندني ارقام دودانۍ دکرسي دموادوکوم چه دیوه پوړیزې ودانۍ دیوه مترمربع ساحهٔلپاره پکاریږي.
خښته ۳۵۰دانې،سمنټ ۱کڅوړه،سیخ ګول ۸کیلوګرامه،چارتراش تختې ۰،۰۹مترمکعبه.

نوټ:
**دکارګروپه هکله:**
د ماهر اوغیر ماهرکارګردکاراندازه نظر دکارګر مهارت،موقعیت،اقلیم اوداسې نوروفکتورونوپورې اړه لرې،نوله دې کبله دکارګرو ارقام لړاوډیر اټکلي دی.

## مځکنی کار او کیندنې
## Earth Work and Excavation

یوکارګراټکلی په یوه ورځ په عادی مځکه کی دنرمی خاوری، ترمتوسطی خاوري او سختی خاوری کی لاندي دندی سرته رسولۍ شی:

۱. دودانۍ بنسټ،من هولونه اوداسی نوری کیندنی چه ۱،۵متره پوري ژوروالي ولري دخاوری له
اوچتولوسره سره. ۲،۵ متره مکعبه.

۲. په نرمه اوپرانه شوي خاوره کي تر۱۵متروپوري دخاوری دلیری کیدلوسره. ۳ متره مکعبه.

۳. سطحی کیندنی چه تر۱۵سانتی متروپنډوالی او د۱۵متروپه فاصلی سره دخاورو انتقال ۱۵متره مربع
یو نفر.

۴. بیرته ډکول ،داوبوشیندل اوتپک کول، په ۱۵سانتی متره پنډوالی سره ۶،۵ متره مکعبه یو نفر.

۵. پټم شوي خاوری ته بڼه ورکول،اوبه شیندل اوتپک کول د ۱۵سانتی متروپه پنډوالی سره ۴ متره
مکعبه یو نفر.

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶. دخاوری لری کول په شکریواوټکریوکې د۵۰مترو په لریوالې سره اوځاي پرځاي کول ۲،۵ متره مکعبه
یو نفر.

۷. دباراوچتول دیوه متر په لوړوالي دهمغه بار انتقالول دکارګرد۱۰متره افقی واټن دطی کولو سره
برابر دی.

**سخته خاوره** (Hard Clay): چه دکلندپه واسطه وکیندل شي،او لوټه یې دلاس په واسطه سره ونه تراشل شي.

**منځنۍ سخته خاوره** (Medium Clay): هغه خاوره ده چه دبیل یا ټسکوري په واسطه وکیندل شي اوپه مشکل سره په لاسو باندي وتراشل شي.

**نرمه خاوره** (Soft Clay): هغه خاوره ده چه دبیل په واسطه وکیندل شي او په آسانۍ سره په لاسو باندي د تراشلو وړوي.

د پورتنیو شرایطو په نظر کي نیولو سره دلاندي خاورو کیندل په یوه ورځ کي په دې ډول دې.

۱. دسختې مځکې یا نرمه شاړه (Soft moorum or hard earth) ۲ متره مکعبه یو نفر
۲. سخته شاړه (Hard Moorum): ۱ متره مکعبه یو نفر
۳. نرمه ډبره (Soft Rock) ۰،۵۵متره مکعبه یو نفر
۴. سخته ډبره (Hard Rock) ۰،۲۵متره مکعبه یو نفر

خاوره کله چه دژوری ځخه وکیندل شی پټم یې ۲۵سلنه زیاتیږی،شګه ۱۰سلنه، اوریګ ۲۰سلنه او تباشیر ۳۰سلنه حجم زیاتوي.
دنوي پټم شوي خاوري په سطحه کي لاندی ټیټوالي مجازه ده.

| | |
|---|---|
| پټم شوې ټپك خاوره | ۱۰سانتی متره په یوه متر لوړوالي کي |
| پټم شوې سسته خاوره | ۱۵سانتی متره په یوه متر لوړوالي کي |
| پټم شوی توره زراعتی خاوره | ۲۰سانتی متره په یوه متر لوړوالي کي |

(c) ketabton.com: The Digital Library

## مساله
## Mortars

دمسالي وچي اعضاوې کله چه سره ګډې شي په حجم کې يې کمښت راځي. او کله چه اوبه ورګډې شي حجم يې نورهم کمیږي چه ددې کمښت اندازه په اټکلي ډول د ۲۰ څخه تر ۳۳ سلنې پورې د مسالې دلومړيو وچواعضا ؤد حجم کیږي.

## دسمنټو اوچونې مساله
## Cement- Lime Mortars

اندازه دموادو په يوه مترمکعب لنده مساله کې.

جدول ۱-۷

| دموادوتناسب ريګ،چونه،سمنټ * | سمنټ Kg | چونه M3 | ريګ M3 |
|---|---|---|---|
| ۱:۱:۳ | ۴۱۰ | ۰،۲۸۴ | ۰،۸۵۲ |
| ۱:۱:۶ | ۲۵۰ | ۰،۱۷۰ | ۱،۰۲۰ |
| ۱:۱:۷ | ۲۲۰ | ۰،۱۵۳ | ۱،۰۷۱ |
| ۱:۱:۸ | ۱۹۰ | ۰،۱۳۲ | ۱،۰۵۶ |
| ۱:۲:۹ | ۱۷۰ | ۰،۲۶۳ | ۱،۰۶۲ |

*خميره شوی اوبلنه چونه

دچونې په مساله کې حجم دګډی شوې لندې مسالې برابر دي۳/۲ دوچي مسالي د ټولو اعضاؤدحجم دمجموعی سره.

مثلاً مخلوط ديومترمکعب ريګ+يومترمکعب چونه+يومترمکعب پوډردپخوخښتو څخه ۲،۵تر۲،۷۵مترمکعبه وچه ګډه شوي مساله او۱،۷۵تر۲مترمکعبه پورې د لندې مسالې سره برابريدای شي.

په عمل کې ديوه مترمکعب لندې مسالې لاسته راوړلودپاره ۱،۴مترمکعبه وچه مساله ضروري ده. همدغه شان ديومترمکعب لندې سمنټي مسالې دلاس ته راوړلو لپاره چه د مخلوط تناسب يې۱:۱او يا ۱:۶ وي، ۱،۴۲تر ۱،۲۱ مترمکعبه سمنټ اوريګ ته ضرورت دئ. همداشان ديومترمکعب خالص سمنټ څخه ۰،۸۷مترمکعبه خميره جوړيدای شي.

### چونه يي مساله:

دموادو اندازه په يوه مترمکعب لندې مسالې کې.

جدول ۲-۷

| دموادوتناسب | ۱:۱ | ۱:۲ | ۱:۳ |
|---|---|---|---|
| مړه چونه په M3 | ۰،۷۰۰ | ۰،۴۷۵ | ۰،۳۷۵ |
| ريګ،دپخوخښتوپوډرپه M3 | ۰،۷۰۰ | ۰،۹۵۰ | ۱،۰۷۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library

**سمنټي مساله:**
دسمنټو اووچ ريګ اندازه په يوه مترمکعب لنده مساله کې.
جدول ۳-۷

| دموادو تناسب ريګ:سمنټ | سمنټ کيلوګرام | ريګ M3 | ريګ په هر ۱۰۰کيلوګرام سمنټوکې M3 |
|---|---|---|---|
| ۱:۱ | ۱۰۲۰ | ۰،۷۱ | ۰،۰۷ |
| ۱:۲ | ۶۸۰ | ۰،۹۵ | ۰،۱۴ |
| ۱:۳ | ۵۱۰ | ۱،۰۵ | ۰،۲۱ |
| ۱:۴ | ۳۸۰ | ۱،۰۵ | ۰،۲۸ |
| ۱:۵ | ۳۱۰ | ۱،۰۵ | ۰،۳۴ |
| ۱:۶ | ۲۵۰ | ۱،۰۵ | ۰،۴۲ |
| ۱:۷ | ۲۲۰ | ۱،۰۵ | ۰،۴۸ |
| ۱:۸ | ۲۰۰ | ۱،۰۵ | ۰،۵۴ |

په پورتني جدول کې دسمنټواندازه په وسطي ډول دضايعاتوسره په نظرکې نيول شوې ده.
داپورتنی تناسب په عمل کې دتطبيق وړدي.

دسمنټومقدار نظردريګ ددانودانداز ې په اساس تغير مومي. په سمنټي مسالې کې هرڅومره چه دريګ دانې ميده وي،هومره ډيروسمنټوته اړتياده نظر وهغه مسالې ته چه دريګ دانې يې غټې وي.
سمنټ اواوبه په مسالې کې دريګ تشې ډکوي.

په هغه ځايوکې چه سپين سمنټ اودمرمر وددبروپوډر دتزئيني محلاتودپلسترپه خاطراستعماليږي دپورتني جدول تناسب په نظرکې نيول کيدای شي.

## کانکريټ
## Concrete

**دپخوخښتواوډبروماتول:**
يونفردورځې په لاندې اندازه ډبرې اوپخې خښتې ماتولی اوپه جغل بدلولای شي.
مګردډبروسختوالی اودخښتواندازه هم په ماتولو کې اثرلري.

دپخوخښتوجغل:
په حدودوکې د۰،۸۰تر۱مترمکعب چه د جغل اندازه يې ۲۵ تر ۴۰ملي متره وي

۰،۵۰تر۰،۶۵مترمکعب چه د جغل اندازه يې ۲۰تر۲۵ملي متره وي
تقريباً د۳۹۰نه تر۴۲۰ دانې۹انچه خښتې او۴۲۰نه تر۴۴۰دانې هندی ستندردخښتوڅخه يومترمکعب دخښتوجغل لاس ته راځي. ۲۸۰نه تر۳۵۰دانې۹انچه خښتې او۳۰۰ څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر۳۷۰داني هندی ستندردخښتو څخه یومترمکعب دخښتوتوتې جوړیدای شي اوهمداشان د ۱۲۵مترمکعبه دخښتود ټوټو څخه ۱۰۰مترمکعبه جغل جوړیدای شي.

**دډبروجغل:**

تقریباً ۰،۵۵ څخه تر۰،۸۰ مترمکعب ډبرې چه دجغل اندازه یې ۲۵تر۴۰ملي متره پورې وي

۰،۱۰ څخه تر۰،۱۵مترمکعب ډبرې چه دجغل اندازه یې ۱۲تر۲۰ملي متره

۰،۶۰ څخه تر ۰،۹۰ مترمکعب ډبرې چه دجغل اندازه یې ۶تر۱۷ملي متره پورې وي

ماتې خښتې اوسختې ډبرې کله چه بیا را غونډ ې اواندازه شي شایدحجم کې تر۷سلنه کموالی راشي.مګردجغل په حجم کې تقریباً ۱۰سلنه کموالی راځي.
سختې ډبرې کله چه په ګاډې کې بارشي دانتقال په وخت کې دګاډې دحرکت اوتندک وهلو له کبله تخته او سطحه یې کښیني، کله چه اندازه شي په حجم کې یې ۷تر۱۲سلنې کمښت راځي

**(a) دبنسټ په یومترمکعب چونه یي کانکریټ کې:**

| توکي | | کارګر |
|---|---|---|
| جغل ( اندا زه -۴۰ملي متر) | ۱،۱مترمکعب | ۱۰/۱ معمار |
| لنده مساله(چونه+ریګ) | ۰،۴۰مترمکعب | ۱،۷۵مزدور |
| وچه مساله: | | |
| کنکر( ګچ) | ۰،۴۲مترمکعب | ۵/۲اوبو وال |
| یا | | |
| ژوندۍ چونه | ۰،۱۷مترمکعب | په ساحه کې چمتو شوي تو کي |
| ریګ یادخښتوپوډر | ۰،۳۴مترمکعب | |
| یا | | |
| سپینه چونه(ژوندۍ چونه) | ۰،۱۸مترمکعب | تیک کاري دجغل حجم کموي |
| ریګ | ۰،۱۸مترمکعب | |
| دخښتوپوډر | ۰،۱۸مترمکعب | |

دهمواروا وکمان شکله باموپه کانکریټ باندې ۱۰سلنه دسمنټومساله چه په ترکیب کې یې ۱۲ملي مترو نه تر۲۰ملي مترو پورې جغل ولري، زیاتول اړین دي. (دسمنټودمسالې اضافه کول دکانکریټو داوبودنه تیرولو په خاطر)

(c) ketabton.com: The Digital Library

**کارګر:**
معمار ۴/۱ نفره مزدور۲نفره اوبو وال۵/۳ نفره

دپخوخښتوجغل کیدای شي دښوپخوشويوخښتو،لږپخوشويوخښتويادمضبوطوپخوشويوخښتو دماتولوڅخه لاس ته راشي.

دخښتوجغل ته مخکې له ګډيدوڅخه پوره اوبه ورسيږي. دخښتوجغل له ۲۴ساعته په اوبو کې غوټه کيدو څخه وروسته دخپل وزن ۲۵سلنه څخه زياتې اوبه جذب نکړي.

جدول ۴-۷

| *مخلوط جغل | سمنټ ۵۰کیلوګرام کڅوړه | مرکب جغل | مرکب جغل چه له ۵۰ملی متري غربال څخه تير شي اوکافي ريګ ولري. |
|---|---|---|---|
| ۱:۵ | ۱ | ۰،۱۵۷ | ۱:۶ |
| ۱:۶ | ۱ | ۰،۲۱۰ | |
| ۱:۸ | ۱ | ۰،۲۸۰ | |
| ۱:۱۰ | ۱ | ۰،۳۵۰ | |
| ۱:۱۲ | ۱ | ۰،۴۲۰ | |

## دسمنټووزن:
يوه ۵۰کيلوګرامه دسمنټوکڅوړه۳۴،۷۲ اويا۳۵ليټره (۰،۰۳۵m3) وزن لري،اوخالص وزن يې ۱۴۴۰کيلوګرامه په يوه مترمکعب کې دی. البته دکڅوړې د وزن سوا(۱۳۰۰نه تر ۱۴۰۰ کيلوګرامه په يومترمکعب کې دسست ډکه شوې کڅوړه او۱۷۰۰کیلوګرامه په يومترمکعب کې دتخته ډکه شوې کڅوړه).
دزودجوشه سمنټو وزن ۱۲۰۰کيلوګرامه په يومترمکعب کې دی.

## دسمنټوکانکريټ: (Cement Concrete)
دډول ډول مخلوطو لپاره په يوه مترمکعب کارتمام کانکريټوکې دتوکواوکارګرواندازه:

دقيقه اندازه دکانکريټوچه لاس ته راځي دجغل په نوعيت،اندازه او دجغل اوريګ ددانودترکيب پورې اړه لري همدارنګه داوبو اندازه چه په مخلوط کې په کاريږي.
**جدول ۵-۷**

| ښه تنظيم شوي جغل ددانودانداز وله مخې (Aggregate | وچ ريګ Average cu.m | سمنټ په کيلوګرام سره | | | | مخلوط Nominal |
|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لاسي مخلوط Hand Mixing | | ماشيني مخلوط Machine Mixing | | |
| | | ماشيني جغل | دريايي جغل | ماشيني جغل | دريايي جغل | |

(c) ketabton.com: The Digital Library

| | Gravel Shingle | Broken Stone | Gravel Shingle | Broken Stone | | graded) 12تر۲۵ ملي متره Average |
|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱:۱:۲ | ۵۵۰ | ۵۸۰ | ۵۷۰ | ۶۰۰ | ۰،۴۰ | ۰،۸۰ |
| ۱:۱،۵:۳ | ۳۷۰ | ۳۹۰ | ۳۸۰ | ۴۰۰ | ۰،۴۲ | ۰،۸۴ |
| ۱:۲:۳ | ۳۶۰ | ۳۸۰ | ۳۷۰ | ۳۹۰ | ۰،۵۴ | ۰،۸۱ |
| ۱:۲:۴ | ۲۹۰ | ۳۱۰ | ۳۰۰ | ۳۲۰ | ۰،۴۵ | ۰،۹۰ |
| ۱:۲،۵:۵ | ۲۵۰ | ۲۷۰ | ۲۶۰ | ۲۸۰ | ۰،۴۶ | ۰،۹۲ |
| ۱:۳:۶ | ۱۹۰ | ۲۱۰ | ۲۰۰ | ۲۲۰ | ۰،۴۶ | ۰،۹۲ |
| ۱:۴:۸ | ۱۴۰ | ۱۶۰ | ۱۵۰ | ۱۷۰ | ۰،۴۷ | ۰،۹۴ |
| ۱:۵:۱۰ | ۱۲۰ | ۱۳۰ | ۱۲۰ | ۱۳۰ | ۰،۴۸ | ۰،۹۶ |
| ۱:۶:۱۲ | ۱۰۰ | ۱۱۰ | ۱۰۰ | ۱۱۰ | ۰،۴۹ | ۰،۹۸ |
| ۱:۶:۱۸ | ۷۰ | ۷۰ | ۷۰ | ۸۰ | ۰،۳۵ | ۱،۰۰ |

## کارگر-لوی کارونه (Labor-Mass Work):

معمار۱/۴نفر،مزدور ۱،۵نفر،اوبووال ۲/۱
دکوچنیو دندو لپاره دکانکریټ مخلوط دلاس په واسطي سره کیږي اونسبت ماشیني مخلوط ته، ډیروسمنټوته اړتیالري. ددریایي جغل په استعمال سره ۵سلنه کم سمنټ او۲سلنه اضافي ریګ اوجغل نظر مات شوي جغل ته اړتیا ده.دجغل حجم دټیک کولو سره کمیږي. دسمنټوکانکریټ نظردچوني کانکریټوته ډیرنه ټیک کیږي.

## سمنټ دکوچنیوکارونولپاره:

یوه ۵۰کیلوګرامه دسمنټوکڅوړه په اټکلي ډول لاندې مخلوطونه جوړولای شي.
دیوه منک داخلي اندازه۲۵سانتي متره په ۳۵سانتي متره په ۴۰سانتي متروکی ده چه معادل دیوې کڅوړې سمنټو کیږي.

۱:۱،۵:۳ کانکریټ — ۰،۱۳۳مترمکعب
۱:۲:۴ کانکریټ — ۰،۱۶۶مترمکعب
۱:۲،۵:۵کانکرنټ — ۰،۱۹۲مترمکعب
۱:۳:۶کانکریټ — ۰،۲۵۰مترمکعب
۱:۴:۸کانکریټ — ۰،۳۳۳مترمکعب
۱:۵:۱۰کانکریټ — ۰،۴۰۰ مترمکعب
۱:۶:۱۲ کانکریټ — ۰،۵۰۰مترمکعب

سمنټ په وزن سره پیمانه کیږي څکه دحجم پیمانه ډیرتغیرمومي.
دکانکریټوداجزاؤ مجموعي حجم وروسته له ګډیدو ۱،۵ څله دګډیدونه مخکې دحجم په نسبت کمیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سیخداره کانکریټ (Reinforced Concrete):

**سیخبندي دپوشش اوبیم لپاره:**

۷۰کیلوګرامه سیخ ګول دیوه مترمکعب سیخداره کانکریټ لپاره چیرته چه یوازې کشوونکی (Tensile) سیخ ته اړتیاوي. ۱۱۰کیلوګرامه سیخ په یوه مترمکعب کانکریټ کې چیرته چه ګژدمک (Stirrup) ،عرضي (Transverse) او پریکنده قوې (Shear) سیخ ته هم اړتیاوي، په کاریږي.

دیوه تن سیخ ګول لپاره ۲تر۴کیلوګرامه ۲ملی متر یا۶،۱ملی متره سیم ته اړتیاده.دسیخ ګول ددواړو څوکو دچنګک کولولپاره لاندني اندازې زیاتول مجازدي.

جدول ۶-۷

| دسیخ قطر په ملي متر | ۶ | ۱۰ | ۱۲ | ۱۶ | ۲۰ | ۲۲ | ۲۵ | ۳۲ | ۴۰ |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| دچنګک مجازي اندازه په سانتي متر | ۱۲ | ۱۹ | ۲۵ | ۳۱ | ۳۷ | ۴۰ | ۴۵ | ۵۶ | ۷۰ |

کیدای شي چه پورتني ارقام نظرډیزاین ته دضایعاتوله کبله په اټکلي ډول ۱۵٪زیات ونیول شي.

## دپایي سیخ بندي (Reinforcement for Columns):

دیوه مترمکعب کانکریټ لپاره په اټکلي ډول ۱۶۰کیلوګرامه سیخ ګول ،اودیوه ټن سیخ ګول لپاره ۵،۱کیلوګرامه ۵،۱ملي متره سیم ته اړتیاده.

دسیخ ګول دقاتولواوقطع کولولپاره کارګر:

۶ملیمترتر ۱۰ملیمتر — ۱۲۰کیلوګرامه یونفرپه یوه ورځ کې
۱۲ملیمتر — ۱۵۰ کیلوګرامه یونفرپه یوه ورځ کې
۱۶ملی متراودهغی نه پورته — ۲۲۰کیلوګرامه یونفرپه یوه ورځ کې

**اضافي سمنټ دکانکریټ دسطحي دهمواروالی اوښوی والی په خاطر دهر۱۰۰مترمربع سطح لپاره:**

الف) دکانکریټ دسطحې هموراوالی اوښوی والی، د۲:۱ دسمنټودمسالې سره دخالصوسمنټودصفاکارۍ په شمول،۴۱۷کیلوګرامه سمنټ.

ب) همدارنګه په سیخداروکانکریټوکي د۳:۱ مسالې سره،۳۶۷کیلوګرامه سمنټ په کاریږي.

ج) دغولې اوداسې نورو کانکریټي سطحو دښوی والې لپاره په خالصوسمنټو،۲۲۰کیلوګرامه سمنټ په کاریږي.

د) دسمنټودخمیرې استعمالول، ۲۷۵کیلوګرامه سمنټ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## قالب بندي (Formwork):

قالب بندي دکانکریټودمجموعي قیمت تقریباً۳/۱ تر ۴/۱ اړکل کیدای شي.

په بنسټ کې دچونه یي اوسمنټي کانکریټوپرتلیزاړکلي قیمت:

| | | |
|---|---|---|
| دسمنټو کانکریټ | ۱:۲:۴ | ۲۷۲۰ افغانۍ په یومترمکعب کې |
| | ۱:۳:۶ | ۲۰۷۰ افغانۍ په یومترمکعب کې |
| | ۱:۴:۸ | ۱۷۷۶ افغانۍ په یومترمکعب کې |
| | ۱:۵:۱۰ | ۱۶۶۵ افغانۍ په یومترمکعب کې |
